تحریری کورس مناظرہ

تشریحات النابغة
في
حل المسائل المختلفة

من ملفوظات

شیخ الاسلام سلطان المناظرین نابغۃ العصر شیخ القرآن والحدیث شہید ابن شہید

ابو العزیز غلام حضرت غلام الحنفی شہید عرف نابغۃ تقبلہ اللہ

تحریر وترتیب

سید محمد ثواب

ابن سید اسماعیل باچا صاحب

اولہ حصہ

ناشر

مدرسہ حذیقۃ الاحناف

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

مسئلة الفرق بين الفِرق :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله عز وجل :

﴿ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَةَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ (سورة آل عمران آيت : ۱۰۳).

بله مسئله چې زيرِ بحث يې کړئو و هغه مسئله د الفرق بين الفِرق ده دې کې ترغيبات دي اتحاد او اتفاق لره او اجتناب دي د تفرقې عقيدوي نه او ذکر د هغه دوه اويا (۷۲) جماعاتو چې کوم د اهلسنت والجماعت په مخالفت کې عقيدوي اختلاف ته پورته شوې دي سره د ذم د هغوي نه په بعضې آثارو روایاتو کې .

او دارنګې ذکر د ترک علاقه د هغوي چې هغوي سره تعلق ساتل جائز نه دي دلته پاکستان کې څه جماعات پيدا شوې دي چې هغوي د عقيدوي تفرقې او د عملي تفرقې په مينځ کې څه فرق نه شي کولې لکه جماعت المسلمين او اهل حديث کومو اياتونو کې چې تفرقه منعه شوې ده هغې نه تفرقه عقيدوي مراد ده اختلاف اجتهادي فرعي عملي نه دي مراد د قرآن عظيم الشان تفسيرونه به هغه منو چې کوم اسلافو مونږ ته کړې وي د ﴿ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ ﴾ .

ترجمه : په تفرقه يې عملي سره چې ائمو و أربعو کړې ده هيڅ نه ده کړې بلکې دې ځاى باندې مفسرين کرام هغه جماعات ذکر کوي چې چا په عقيده کې تفرقه جوړه کړې دا چې تفرقه عملي عند الله شنيع او قبيحه نه وه او مردوده نه وه واضح دليل په هغې باندې تعدد دا ديانو دي .

که چيرته د اله العالمين په نزد باندې تفرقه عملي جرم وايي قبيحه وايي مردوده وايي نو خالق به کله هم دنيا ته مختلف دينونه ، نه وه رااليږلي دين د يهوديت نصرانيت له دين د مسلمينو سره په عقيده کې فرق نه لرلو اسمان نه يوه عقيده راغلي وه ملت ابراهيمي وه او دغه شان يهودانو او عيسويانو ته هم د دغه عقيدې پرچار وه په خپل دين او کتاب کې دا چې

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

وروسته هغې کې جماعات پیدا شول او خپله عقیده یې خرابه کړه او په نورو نومونو یې توضیح او تقسیم کړه داد هغوي جرم وه.

خو زمونږ دین اسلام د اصل یهودیت او اصل نصرانیت سره په عقیده د توحید کې مخالفت نه لري او د قرآن عظیم الشان دغه نصوص چې د قرآن عظیم الشان په صفت کې راغي چې **مصدق لما معکم** واضح دلیل دی چې خبرې دي چې قران عظیم الشان د ماسبق دین په اصولو کې مؤید دي مصدق دي یو مخالفت د دین اسلامي د یهودیت او نصرانیت سره په عقیده کې نه دي بلکې په عملِ فرعي جزئي کې دي بعض اشیاء هلته حلال وه زمونږ دین کې حرام شو بعضې اشیاء هلته حرام وه زمونږ دین کې حلال شول.

نو مخالفت د مسلمانانو له هغوي سره په دغه عملي جزئیاتو کې ده که دغه عملي مخالفت د خدای تعالی په نزد مردود وای قبیح وای نو خالق به ادیان مختلفه نه رالیږل لکه څنګه چې عقیده کې اختلاف مردود ملعون مقبوح وه نو په هغې وجه خالق دنیا ته یوه عقیده راولیږله او ټول انبیاء په دغه عقیده راولیږل او اوسه پورې له اسلافو نه همدغه یوه عقیده ده چې هغه عقیده د اهلسنت والجماعت ده.

نو عقیده تفرقه نه قبلوي عقیده نزاع نه قبلوي عقیده کې اختلاف جرم دي هر چې عمل کې اختلاف دي جرم نه دي بطورِ مثال لکه ائموو أربعوو عملي تفرقه کړې ده که څوک په دوې اعتراض وکړي چې الله پاک وایي ولا تفرقوا تاسو تفرقه ولې وکړه او دا تفرقه عملي ته شامل کړي نو دا تفرقه خو بیا صحابه کرامو هم کړې وه واضحه معلومه ده چې په **رفع الیدین** باندې څه قائل وه څه نه وه قائل په **قراءت خلف الامام** باندې څه قائل وه څه نه وه قائل نو دا ټول ائمه څه د یو صحابي پسې تللي څه د بل پسې تللي که څوک اعتراض په صحابوو باندې کوي په أئموو باندې چې دوي دا تفرقه یې عملي ولې جوړ کړي په اجتهادي مسائلو کې نو دا اعتراض دې په دوي نه کوي د دوي په مقتدیانو دې وکړي چې هغه دوي چا پسې اقتداء کړې وه هغه صحابه کرام وه.

نو دا اختلاف خو هغوي جوړ کړې وه عملي تفرقه جرم نه دي هر چې جرم دي هغه عقیدوي تفرقه ده او دې ایات کریمه کې منع د عقیدوي تفرقې نه شوې ده او مفسرین کرام په دغه ځای باندې هغه دري اویا (۷۳) جماعات د دې امت ذکر کوي.

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ حبل الله قرآن عظیم الشان دي او حبل الله د قرآن عظیم الشان مقصدي عقیده ده چې هغه عقیده د اهلسنت والجماعت ده.

﴿ وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ دې نه تفرقې مه کوي یو خوا بل خوا مه ترې تاویږي تفسیر الدر المنثور جلد ۳ صفحه ۷۱۲ د دې ایات کریمه شرحه کې روایات را اخلي :

واخرج ابن ماجة وابن جرير وابن ابي حاتم عن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افترقت بنوا اسرائيل على احدى وسبعين فرقة وان امتي ستفترق على اثنتين وسبعين فرقة.

بني اسرائیل یو اویا (۷۱) فرق شول خو زما امت به زر دي چې دوه اویا (۷۲) فرقې شي نو دا هغه راوي كلهم في النار (۷۲) جماعات یاد کړې دي ورنه وروسته روایت پرې دال دي چې زما امت به (۷۳) فرقې کیږي نو کوم حدیث کې چې (۷۲) راغلل دا فرق ضاله یادوي.

كلهم في النار الا واحدة قالوا يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ومن هذه الواحدة قال.

دا یوه کومه ده:

قال الجماعة. نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې ثومره کلامونه کړي دي دا هغه ناست مجلس کې صحابه کرام چې وه نو هغوي عقلاء وه او عاقل لپاره خلک اشارې کوي نو الجماعة ثوک دي اهلسنت والجماعت دي کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې نه په السنة سره تعبیر کړې دي. (تفسير ابن ابي حاتم ج ١٤ ص ١٤٩ بيروت)

کله د هغې نه په الجماعة سره تعبیر کړې دي خو اشارت هم دې ته کوي چې هغه اهلسنت والجماعة فرقه ده.

ثم قال: ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾.

نو تلاوت د دې ایات کریمه د دې مضمون سره دا ایات لوستل نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې ایات تفسیر بیانوي اشاره دې ته کوي چې مراد د تفرقې نه دغه تفرقې دي چې کوم (۷۲) جماعاتو د اهلسنت سره کړې دي نه تفرقه د احنافو مینځ کې دا مسائل د (۷۲)

Scanned by CamScanner

جماعاتو په مینځ کې فرق او تمیز دري (۳) کتابونه که تاسو واخلي او مطالعه یې کړي پیدا کیږي چې یو د هغې نه کتاب د الفرق بین الفرق دي او دا په دې باب کې ډیر ښکلي کتاب دي امام عبدالقاهر بن طاهر بن محمد البغدادي المتوفی سنة ۴۲۹ تقریباً د امام بیهقي سره قریب دي او ده پوره کار په دې مسئله باندې کړې دي او دویم کتاب التبصیر في الدین وتمیز الفرقة الناجیة عن الفرق الهالکین داد طاهر بن محمد الأسفرایني کتاب دی هغه تقریباً د هغې نه هم د مخکنو علماء نه دي بیا ده ډیر تفصیل کړې دي او د هریو ډلې د تسمې وجهې بیان کړې ده بیا هغه جماعات چیرته ښکاره شوې او بیا هغه جماعات مقابله کې د کوم وخت بادشاه وه چې ددوي مقابله یې کړې ده او څه نومیده نو ډیر تفصیلي دي.

او دریم الابانة عن شریعة الفرقة الناجیة و مجانبة الفرق المذمومة د حافظ ابن بطة العکبري الحنبلي هغه تقریباً ددوي هم عصر دي خپل سند لري د حدیثو ډیر ښائسته کتاب دي ٦ جلد ده ابانة معنی جدا والې داهلسنت والجماعة د اهل زیغ نه په دې مسئله یې لیکلي.

یو کتاب بل دي چې تاسو د یهودو او عیسویانو (۷۱) او (۷۲) جماعته یې په تفصیل سره بیان کړې او د هغوي نومونه یې ذکر کړې دي او د هغوي د عقیدو ذکر یې کړي او د امت محمدي (۷۳) جماعته ذکر کړي او جامع کتاب دي.

الملل والنحل د امام الشهرستاني دي د متکلمینو نه یو امام دي او هغه نور هم قول ده نه اخذ کوي او په دې باب کې ډیر ماهر دي.

تفسیر الدر المنثور جلد ۳ صفحه ۷۱۹ دویم روایت ذکر کوي:

واخرج احمد وابوداؤد والحاکم عن معاویة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان اهل الکتاب تفرقوا في دینهم علی اثنتین وسبعین ملة وتفترق هذه الأمة علی ثلاث وسبعین ملة کلها في النار إلا واحدة وهي الجماعة.

اهل کتاب خپل دین کې (۷۲) ډلې شوې وه او زما دا امت به په (۷۳) ملتو تقسیم شي ګوره دلته اطلاق د لفظ د ملة وشو او هغه مخکې حدیث کې اطلاق د لفظ د فرقې شوې وه اګر که لفظ د فرقې خو عام دي که په عمل کې تفرقه راشي لغتاً به هم شامل شي خو په ایات کې د لاتفرقوا نبي اکرم صلى الله عليه وسلم دا جماعات یاد کړې دي او دلته د فرقې په ځای لفظ د

ملة راغې نو ملة او مذهب او دين د دوي په مينځ کې عرفي فرق څه شي دي سره د ملة إصطلاح فقهاء او محدثين چيرته کوي د دين اصطلاح چيرته کوي او د مذهب چيرته کوي.

ملة دوي عبارت ګرځوي د تګلارې عقيدوي نه او مذهب تګلاره فرعي عملي نه او هر چې دين دي جامع دي دواړو لره تګلاره عقيدوي او عملي نو که څوک درنه تپوس کوي چې په ملة د چا يې اصطلاح داده چې ابراهيم عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ يعنې محض عقيده کې د هغه پسې ځمه او که څوک درنه تپوس وکړي چې په مذهب د چا يې نو د هغه ستا مُقتَدیٰ چې تا پسې عمل کې په جزي فرعي کې اقتداء کړي د هغه نوم به اخلي.

او که څوک درنه تپوس وکړي چې په دين د چا يې نو د نبي اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ نوم به ځکه اخلي چې په عقيده او عمل دواړو کې د محمد مصطفى صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ پسې اتباع ده.

مذهب په معنى د تګلارې باندې ځای د ذهاب لاره د ذهاب په عملي جزئياتو کې دې ته نوم وګرځيده.

جماعة المسلمين يوه فرقه ده ټول جهلاء په کې راغونډ دي علماء په کې نشته هغوي څه کتب ليکلي دي او په هغې کې بې ځايه اعتراضات کړې دي دومره ګستاخانه الفاظ يې استعمال کړې دي او يو عنوان يې داسې ورکړې واي مذهب ليټرين ته وايي بيا يې هغه حديث پيش کړي چې د نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ به کله اراده وه د قضاء حاجت لپاره نو: أبعد في المذهب. نو هغلته مراد د مذهب نه څه شي دي مصدرِ ميمي دي: أبعد في المذهب معنى أبعد في الذهاب إلى الحاجة، لرې والې به يې کولو په ذهاب الى الحاجة کې نو دوي دومره جهلاء دي جماعت المسلمين والا چې مذهب کومه اصطلاح د فقهاء محدثينو د امت کې په حق د مذاهبو اربعوو کې استعمال ده دلته مذهب مصدرِ ميمي نه دي هغه د ظرف صيغه ده او په کوم حديث کې چې راغلي چې أبعد في المذهب هغه مصدرِ ميمي مراد دي.

نو دوي د مصدرِ ميمي او د ظرف صيغې ترمينځ فرق نه شي کولې هغلته او س څوک دا معنى کولې شي چې نبي اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ أبعد في المذهب په اربعة مذاهبو کې وه لرې به په کې لاړو داسې جهلاء دي.

Scanned by CamScanner

حکایت :

دمتنو د علاقې يو اميرې دلته راغلې وه روژه وه مازديګر کې راغې ماته يې وويل چې ما ستاسو بيان واوريدلو چې په دې ډلو او جماعتونو دې رد کړې وه او زما ډير خوښ شو ما وويل څه کيدې شي سړي به د وهابيانو سره وران وي دې اوس د جماعة المسلمين نه وه .خو لکه ده وويل چې دې له دې ډلو سره وران دي او دې به مطلق د تفرقې خلاف وي وايي ګوره دې امت کې څلور مذهبونه جوړ شول .او دا هم امت کې تفرقه ده او تفرقه خو د مشرکينو کار دي زه پرې پوهه شوم چې دا خبره يې وکړه چې سړي خو سم سړي نه دي دا خو د جماعة المسلمين نه ډي ما ورته وويل ته کوم ځای نه راغلې يې وايي زه له متنو نه راغلې يم .

د متنو د حلقې د جماعة المسلمين امير يمه ما ورته وويل ته او سه پورې د اختلاف عملي او عقيدوي فرق نه شي کولې دا کوم چې منعه ده دا په عقيده کې اختلاف منع ده په عمل کې خو جرم نه دي نه وايي دا حنفيت شافعيت مالکيت حنبليت دا خو سم ثابت نه دي او دا لويه تفرقه ده چې دين کې جوړه شوې ده نو دغه وخت کې هيڅوک هم راسره نه وه چې ريکاډ مې ترې نه کړې واى مونږ دوه په دوه ناست وو ما ورته وويل چې داسې وکړه چې ته هم ځان ته يو نوم کيږده دعوى کيږده زه به يې هم کيږدم ته يې هم ثابت کړه زه به يې هم ثابت کړم.

ما ورته وويل ته څه شي يې وايي زه مسلم يم ما ورته وويل مسلمان يې وايي نه نا مسلمان نه يم مسلم يمه ډير جاهل دي چې ته ورته وو ايي مسلمان يې وايي نه نه مسلمان به نه وايي مسلم به وايي نو هلکه ته خو پختون يې که عرب يې مسلمان د مسلم معنى ده کنه نو دومره احمقان دي وايي نه مسلمان قران او په سنت کې نشته مسلم راغلې دي مسلم يمه خو مسلمان نه يمه ما ورته وويل صرفِ مسلم يې که حنفي مسلم يې وايي نه صرف مسلم يم ما ورته وويل چې ستا دا دعوى شوه چې صرف مسلم يې .

او زما دا دعوى ده چې حنفي مسلم يمه صحيح شوه وايي صحيح ده ما ورته وويل زما دا دعوى ده چې زه حنفي مسلم يمه ﴿ مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ﴾ هغه حنيف مسلم وه زه هم حنيف مسلم يمه او ته د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په دين او په ملة

Scanned by CamScanner

باندې نه يې ځکه ته خو صرف مسلم يې او هغه حنفي مسلم وه.
دلته سړي تپوس نه شروع کړه وايي نه هغه خو يو شان حنفيت دي او دا بل شان حنفيت دي ما ورته وويل چې يو شان او بل شان په کې نشته دي زه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مقلد يمه هغه ته ابو حنيفه ځکه وايي چې هغه لازم الحنفية وه هغه حنفيت چې کوم حنفي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ وه هيڅ فرق نشته دې همغه حنفيت دي.
بل په کې چا راوړې دي ما ورته وويل چې نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:
انما بعثت على الحنفية. زه مبعوث په حنفيت يم ما ورته وويل زه حنفي مسلم يم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دين يمه او ته خدايه د چا په دين راغلې يې ته خو سره د هغه په دين هم نه يې هله به د هغه په دين شي چې حنفي ځان ته ووايي اوس يې د شرم نه ځان ته حنفي هم نه شو ويلې هغه حنفي يې هم ځان ته نه ويل په ضد کې راغلو ما ورته وويل ته صرف مسلم يې او صرف مسلم منافق ته ويل کيږي.
﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ منافقينو ته وايي چې مسلمين يې خو مؤمنين نه يې ما ورته وويل ته د منافقينو نه يې د مسلمينو نه يې خو د مؤمنينو نه، نه يې.
نو ماته يې وويل چې دا خو به ته د حنفي لپاره ثبوت پيش کړې دا شافعي مالکي او حنبلي دوي د پاره څه دليل دي ما ورته وويل پردي جنګونه زما کور ته مه راوړه څه چيرې د شافعي نه دا تپوس وکړه زه حنفي يم دليل مې درکړو درته.
بيا دوه دي ته هم حصار نه شو لاړ زما يو دوست وه هغه کره تللې وه سخه زما دوست بيا ما ته وويل چې هغه وويل چې ما له دوي سره دوه دي ځکه ونه خوړله چې دا روژه ماتې کې دوي غوښې راوړې دا مذبوحې د مشرکينو دي دا زمونږ لپاره حلالې نه دي ځکه مې روټي ورسره ونه خوړله.
او ددوي همدا عقيده هم ده زما يو شاګرد ده هغه ددوي يو مخفي اجتماع ته ورغلي وه ددوي يوه خصوصي اجتماع وه د جماعة المسلمين مشر دا اکټر مسعود چې کوم دي هغه په انګلينډ کې ناست دي ۲۳ کاله کيږي پاکستان کې دا تنظيم شروع دي تر اوسه پورې پاکستان په ستر ګو هم نه دي ليدلې او د انګلينډ نه دوي ته په ټيليفون باندې تربيه ورکوي

Scanned by CamScanner

دلته پاکستان کې د هرې ضلعې لپاره دوي يو امير لري.

نو هغه اُمراء يې راغونډ وه په يو خاص ځای کې د دوي يو مخفي شوری وه نو زما دغه شاګرد وويل چې زه هم چا په کې دعوت کړمه ځکه جماعة المسلمين مې رشته دار وه زه يې هم ځان سره بوتلم وايي چې لاړو هلته نو مجلس شروع شو تقارير وشول نو دې کې وايي دوه کسان وه تک تور بد شکله چانتې يې اچولې وي او ګرنيټونه هم ورسره وه وايي دې امير بيان وکړو چې دې مسلک ته زمونږ داسې قربانۍ والا ځوانان په کار دي چې دوي ټول عمر دين لپاره وقف کړې دي او دوي ته چې مونږ کله هم ويلي دي چې فلانې نفر شوټ کړي نو داد شوټ کولو والا دي او ددوي اوصاف يې بيان کړل.

نو زما هغه شاګرد ډير سياسي سړی هم دي هغه وويل وايي چې کله د ډوډې وخت راغې نو زه هغه دوه کسانو ته ورنزدې شوم هغه دوي کې وايي چې قرباني والا وه دوي سره مې نزدې ځان ته ځای برابر کړو نو ډوډې شروع شوه نو دا دوه کسانو وايي ډوډې خوړله سبزي وغيره خوړل او غوښه يې نه خوړله وايي ما ورته وويل چې دا خوري کنه هغه خپله روټې کې هم نه خوړله وايي مونږ ته د انګلينډ نه امير صاحب ويلي چې پاکستان کې لږ د غوښو سره احتياط وکړي داد مشرکينو مذبوحې دي دا تاسو ته حلالې نه دي نو دا مونږ نه خورو مونږ باندې امير صاحب بندې کړې دي.

وايي ما ورته وويل چې بيا به يې مونږ هم نه خورو وايي نه نه تاسو يې خوري تاسو ته پرواه نه کوي مونږ باندې ددې شيانو پابندي لګيدلې ده نو دومره پورې هغوي د پاکستان خلکو ته مشرکين وايي او ددوي حلاله مرداره ګڼي ډير احمق خلک دي.

د تفرقې عقيدوي او عملي فرق نه شي کولې او کوم ځای کې چې رد په کومو تفرقو راغلې دي هغې کې دوي هم مبتلاء دي هغه په ائمو وچسپانوي.

بل حديث تفسير دُر منثور جلد ۳ صفحه ۷۱۹ کې ذکر کوي:

واخرج الحاكم عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ يأتي على أمتي ما أتى على بني اسرائيل حذو النعل بالنعل.

برابر نعل بالنعل پسې به دوي اقتداء کوي.

Scanned by CamScanner

حتى لو كان فيهم من نكح أمه علانية كان في أمتي مثله إن بني اسرائيل افترقوا على احدى وسبعين ملة وتفترق أمتي على ثلاث وسبعين ملة كلها في النار الا ملة واحدةً.

بعضې ځای کې (۷۱) راغلي او بعضې ځای کې (۷۲) تطبيق دادی چې (۷۱) عيسويان دي او (۷۲) يهودان دي دواړو نه تعبير په بنو اسرائيلو شوی دي کله به نبي اکرم ﷺ بني اسرائيل کې نصرانيان ياد کړي دي او کله يې يهودان ياد کړي دي.

فقيل له ما الواحدة قال ما انا عليه اليوم وأصحابي اليوم.

چې زه ورباندې يم نن ورځ او زما صحابه ورباندې دي.

ما انا عليه اصحابي معنى د اهلسنت خپله ورکوي ځکه چې نبي علیه السلام په کوم لار روان وي هغې ته سنت وايي ځوک چې د هغې پسې وي اهلسنت دي صحابه چې په کومه لاره روان وي جماعت د صحابوو دي او ځوک چې هغوي پسې ځي اهل الجماعت دي نو اهلسنت والجماعة دد ې معنى شوه.

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د **يوم تبيض وجوه وتسود وجوه** په شرحه کې په دې ځای کې د عبد الله ابن عباس رضي الله عنه روايت را اخيستې دي د **ما انا عليه واصحابي** ترجمه يې کړې په اهلسنت والجماعة سره د بي بي عائشه رضي الله عنها روايت الملل والنحل را اخيستي دي چا ترې تپوس کړي چې **ما انا عليه واصحابي** ځوک دي وايي **هم اهل السنة والجماعة**.

دا حديث چې کومو کتبو را اخيستي دي حوالې دادې:

مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۱۰۲، سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۲۶ بيروتي چاپ، المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۴ صفحه ۳۰۱، السنة للمروزي جلد ۱ صفحه ۲۰.

وزاد وهي الجماعة فاعتصموا بها فاعتصموا بها.

دا الفاظ يې زيات کړي په مرفوع حديث کې.

دا چې زه ورباندې يمه دا جماعة دي يعني دا اهلسنت والجماعة فرقه ده **فاعتصموا بها** فاعتصموا بها منګولې پرې ولګوي نو دا ترجمه د هغه ايات شوه چې: **﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا﴾** حبل الله د غه عقيده د اهلسنت والجماعة شوه.

Scanned by CamScanner

المستدرک جلد ١ صفحه ١٢٨ دلائل النبوة للبيهقي جلد ٦ صفحه ٥٤٢ شرح السنة جلد ١ صفحه ٢١٣ مسند الشاميين جلد ٢ صفحه ١٠٨.

الاربعون حديثاً للأجيري جلد ١ صفحه ١٥ هغې کې دا الفاظ زيات دي چې دغه (٧٢) جماعات چې دي په دې کې بيا اسلاف لکه محدثينو ابتداء چې وه او بيا د هغې نه بعد متأخرين دا سې متأخرين نه دي بلکې هغه هم نهه سوه (٩٠٠) کاله مخکې متقديمنو نه دي په هغه زمانه د محدثينو کې دا څلور (۴) نزاعات معروف وه نزاع د خوارجو روافضو او د قدريه وو او د مرجئه وو دا ډير مشهور وه.

نزاع د معطله او د مشبه وو دومره نه وه نو ددې وجې نه اسلاف محدثين دا (٧٢) ډلې تقسيموي په اصولو کې څلورو جماعاتو ته دوي وايي چې اصول ددې څلور دي او هريوه ډله بيا اتلس (١٨) جماعاته دي نو اتلسو ته چې په څلورو کې ضرب ورکړې نو دوه اويا (٧٢) شوې.

دويمه طريقه د تقسيم داده چې اصول دد ې څلور جماعاته دي خو دې کې شيعه ګان شل (٢٠) دي خوارج شل (٢٠) دي دوه نور چې قدريه او مرجئه دي شپاړس (١٦) شپاړس (١٦) دي.

دريمه طريقه د تقسيم داده چې اصول دد ې فرقو سته (٦) دي او هريوه ډله بيا دولس (١٢) دولس (١٢) جماعته ده نو شپږو ته چې په دولسو کې ضرب ورکړې نو دوه اويا (٧٢) ډلې شوې دا درې طريقې د تقسيم شوې دي بيان کړې دي.

او ابن تيميه چې کوم تقسيم بيان کړې دي چې اصول دد ې څلور دي خوارج دي روافض دي او قدريه دي مرجئه دي دا څلور ډلې شوي دې کې شيعه ګان شل (٢٠) جماعته، خوراج شل جماعته او قدريه او مرجئه شپاړس (١٦) شپاړس (١٦) جماعته دي.

أجيري دغه عبارت ذکر کړې دي:

حدثنا ابوبكر بن ابي داؤد قال حدثنا المسيب بن واضح قال سمعت يوسف بن اسباط يقول أصول البدع أربع.

نو په نزد د محدثينو او فقهاو اهل بدعت دا دوه اويا (٧٢) ډلې دي دوي ته بدعتيان ويل کيږي چې دوي عقيده نوي پيدا کړه.

Scanned by CamScanner

الروافض والخوارج والقدرية والمرجئة ثم تتشعب كل فرقة ثماني عشرة طائفة فتلك اثنان وسبعون فرقة. دا طريقه د تقسيم شوه نو (۱۸) (۱۸) (۷۲) فرقې شوې ټولې.

يوه بله طريقه چې امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ د ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا﴾ په ذيل کې بيان کړې ده او ډير ښه تفصيل يې کړې دي نو هلته بايد مراجعه وشي د زيات تفصيل لپاره.

تفسير قرطبي جلد ۴ صفحه ۱۶۰ هغه وايي چې اصول د فرقو شپږ دي دوي دې ځاى کې له هغه حديث نه استدلال نه دي کړې چې کوم د ترمذي په دويم جلد کې روايت دي عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې:

خط النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطاً. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو خط او ښکه بيا د هغې يمين طرف ته هم خطوط جوړ کړل او په يسار چپ طرف يې هم ترې خطوط جوړ کړل او وي ويل چې دا صراط مستقيم دي دا دي صراط مستقيم نه جهنم ته لارې تللې دي دغه خطوط په هر طرف کې ۳ درې درې خطوط وه يو طرف هم درې خطوط وه بل طرف هم درې خطوط وه نو په دغې کې اشاره وه هغه ستة شپږو اصولو د فرقو لره چې دا درې افراطيان دي او دا درې تفريطيان او دغه شپږ جماعته چې علامه قرطبي ذکر کوي هغه وايي:

فقد ظهر لنا من اصول الفرق الحروية والقدرية والجهمية والمرجئة والرافضة والجبرية

دا خوارج دي ځکه اوله اجتماع يې په حرورا کې شوې وه بله قدريه بله جهمية بله مرجئه بله رافضة بله جبريه.

دا اصول يې بيان کړې دي.

وقال بعض اهل العلم اصل الفرق الضالة هذه الفرق الست، وقد انقسمت كل فرقة منها اثنتي عشرة فرقة فصارت اثنتين وسبعين فرقة. دده تقسيم په دې شکل باندې دي.

او ما هم دده تقسيم پسې ذهاب کړې دي او دده په طريقه تللې يمه اګر که صاحب د الفرق بين الفرق د اسلافو تقسيم را اخلي هغه شيعه ګان شل جماعاتو کې تقسيموي خو دې کې دو مره خبره ده چې که تاسو الفرق بين الفرق يا التبصير وګوري کيدې شي دا فرق او د هغوي اسامي او جماعات تاسو د ۱۵۰ نه هم زيات پيدا کړي ډير زيات دي نو بيا به شبه درته نه پيدا کيږي چې دا خو (۷۲) وه دا زيات څنګه شول.

Scanned by CamScanner

هغه دادی چې تول وګوري دوي وايي چې څه جماعات د خوارجو دا سې دي چې هغه من فرق المسلمين نه دي يقيني کافر دي هغوي ته غلاط الخوارج وايي هغوي دوي زير بحث دغه ځای کې نه ګرځوي .

نبي اکرم ﷺ په دې کې هغوي ته اشاره نه ده کړې څه فرق د شيعه ګانو دي چې هغوي يقيني کافر دي هغه غلاط الروافض دي هغه په دې دوه اويا (۷۲) جماعاتو کې نه دي داخل دا دوه اويا (۷۲) جماعاته من فرق المسلمين دي دوي باندې اطلاق د کفر تغليظ دي دا حقيقت کې ضال دي مضل دي اهل زيغ دي .

کوم چې دوي کې غلاط دي هغه په دې دوه اويا (۷۲) کې نه دي راغلي نو که تاسو الفرق بين الفرق يا وغيره کې چيرته ډلې زياتې پيدا کړي هغه به دوي هغه (۷۲) نه يادوي هغه غلاط به يادوي مثال په طور شيعه ګانو کې يو جماعت دي چې هغوي وايي ، وايي جبرائيل عليه السلام خطاء شو دا وحي حضرت علي رضي الله عنه ته راتله دا يې نبي عليه السلام ته يوړه نو دغه جماعت په اتفاق د علماء د نبوت منکر دي د وحي منکر دي نو دا خو د غلاطو نه دي يا بعضې نور جماعات ددوي .

دې کې په خوارجو کې څه جماعات وه چې هغوي د لمسی سره د نيکه نکاح جائز ګڼله د وريرې سره يې جائزه ګڼله او درانګې خورزه او خاله وريره او عمه دا يې په يوه نکاح کې جمع کول جائز ګڼل هغه د غلاطو نه دي هغه دوي دې فرقو کې نه داخلوي .

ددې نه بعد زه يو څو روايات ذکر کوم چې په هغې کې د اتفاق طرف ته رغبت دي او اجتناب دي له اختلافاتو نه او بل ددې خبرې ذکر کوم چې ترڅو عقيده د اهلسنت و الجماعت نه وي نو عمل نه قبليږي که دې (۷۲) جماعاتو کې هر جماعت کې څوک داخل شول اعمال مقبول عند الله نه دي .

دا چې اعمال مقبول عند الله نه دي په کومه معنی قبول دوه معناوی لري په نزد د محدثينو معروف معاني يو قبول دي په معنی د وقوع الشيء في حيز مرضات او دويم قبول دي په معنی د فراغ الذمة سره نو چې کوم علماء وايي چې ددوي اعمال مقبول نه دي دا په معنی د فراغ الذمي نه دي چې ګنې ددوي ذمه نه ده فارغه شوې دا په معنی د وقوع الشيء في حيز

Scanned by CamScanner

مرضات الله يعني دا داسې قبول نه دي چې د مانځه ثواجر دې دوي ته په اجر ورکول شي يا دوي ته به اجر نه ورکول کيږي.

حج چې کوي روژه نيسي فقط فراغ الذمة به يې راشي خو ددې چې کوم أجور دي او کوم رفع د درجاتو پرې راځي هغه به دوي ته نه ورکول کيږي نه شيعه ته نه خارجي ته او نه دې نورو ډلو ته.

مسند الطيالسي جلد ۲ صفحه ۴۸۱ کې روايت ذکر کوي دا مې ددې لپاره دلته ذکر کړو او خاصتاً دې مجاهدين غور پرې وکړي چې د اهلسنتو له خوارجو سره اجماعي اصولو کې مخالفت په څه شي کې دي يو اجماعي اصل دي چې خوارج مرتکب د کبيرې کافر ګڼي او مخلد في النار يې ګڼي او اهلسنت يې نه ګڼي، محدثين دي که فقهاء دي مرتکب د کبائرو کافر نه ګڼي او مخلد في النار يې نه ګڼي.

دا هغه اجماعي فرق دي د اهلسنت له خوارجو سره.

دويم تکفير د مَن عَدٰی کوي چې څوک ددوي د تنظيم او ډلې نه بهروي کافر ورته وايي اهلسنت ددې مخالف دي او اهلسنت اهل قبله وو کې هيچا ته هم کافر نه وايي ترڅو چې د غلاطو نه، نه وي ګرځيدلې لکه هغه کوم ضرورياتو د دين نه انکار راشي ښکاره بعضې جماعات دي امت کې پيدا شوې دي چې هغه زنادقه ددې امت وه له هغې سوا، او چې کوم دا دوه اويا (۷۲) جماعات دي دوي هم تکفير نه کوي بلکې تضليل يې کوي.

بل د اجماعي عقائدو نه داده چې اهلسنت د عادل بادشاه اطاعت لازم ګڼي او د جائر او ظالم بادشاه اطاعت هم لازم ګڼي د ظالم بادشاه به داسې اطاعت کوي لکه څنګه چې د عادل بادشاه کوي صرف د کافر په اطاعت نه کوي خوراج چې اجماعي اصولو کې له اهلسنت سره مخالف دي خوارج وايي چې د عادل بادشاه به اطاعت کوي او د جائر به داسې مقابله کوي لکه د کافر بادشاه چې کوي.

اوس د مجاهدينو په صفونو کې ډير ځايونو کې خوارج دننه شوې دي او هغوي د کافر بادشاه او د جائر بادشاه فرق نه شي کولې د پاکستان بادشاه جائر دي کافر نه دي او د جائر بادشاه مقابله کې جهاد کول د اهلسنت عقيده نه ده داد خوارجو عقيده ده او دا بنيادي فرق

Scanned by CamScanner

دي د اهلسنت له خوارجو سره .

او کوم مجاهدين چې په دغه سرګرمي کې راغلې دي يا د لا علمي له وجې نه دي او يا علماء دي خو د علم کلام نه خبر نه دي خپل اصول ورته نه دي معلوم چې اهلسنت چا ته رايي دا هغه خوارجو ولوبول زمونږ احناف علماء ځان يې پوهه نه کړل په ځاى د کافر د مقابلې د ظالم مقابلې ته ودرول ددې نيکه ثمره نه وي داد اغيارو خارجيانو لاسونه وي مجاهدين او خاصکر د طالبانو وينه خو ګرمه ده هغوي ته د جهاد ټکي وايه نو ريې بيخي په اصولو خبره وه مه درسره به منډي وهي .

نو جهاد خپلو اصولو کې کوي بې ګناه مسلمانان وژل په مسجدونو کې بمونه خلاصول داد جهاد نوم نه دي داد جهاد بدنامول دي او چې څوک هم دا کوي عام مسلمانان وژني نو دغه سړي هسې د جهاد په نوم به خارجي ګوډاګي وي او د مجاهدينو صف به بدناموي.

او مجاهدينو ته هم دا په کار ده چې په يو ځاى کې يو بم خلاص شي ودې ګوري چې هغلته عام مسلمانان څومره مړه شوې دي که مسلمانان په کې ډير مړه شوې وي او ددوي له مجاهد نه غلطي شوې وي نو دوي ته نه دي په کار چې د هغې ذمه داري قبوله کړي چې ګنې دا توره مونږ کړې ده څه توره دې کړي مسلمانان دې مړه کړل نو بعضې شيانو دوي ته قبلول نه وي په کار بس وه دې وايي چې زمونږ له مجاهد نه غلطي شوې ده وژل يې کافران مسلمانان ترې مړه شول نو ته خو يې بيا مه قبلوه چې دا مونږ کړې ده اعلاناً په ريډيو وايي چې ددې ذمه داري مونږ قبوله کړه .

دا بنيادي فرقونه دي او دا ما ددې لپاره ذکر کړي ترڅو د مجاهدينو سترګې خلاصې شي ترڅو خپل صف نه خوارج لرې کړي او که خامخا د ضرورت پر بناء باندې وخت داسې راغلې وي چې يا د نفرو کمبود دي ده يا د پيسو کمي وي او مجاهدينو ځاى ورکړو وهابيانو ته نو چې ځاى يې ورکړو نو په دې شکل نه چې د وهابيانو اصول را واخلي نه خپل اصول به په هغوي چسپانوي .

زمونږ اصول څه شي دي د ظالم بادشاه مقابله کې به مونږ قيام نه کوو او خوراج وايي چې د ظالم بادشاه مقابله کې به قيام کوو دا هغه اجماعي اصل او فرق دي سره نو چې دا فرق

Scanned by CamScanner

دي نو اصلي سالک د تحریک اسلامي هغه به د مسلمان بادشاه مقابله کې قیام نه کوي بلکې د کافر بادشاه مقابله کې به قیام کوي.

نو حدیث د مسند الطیالسي جلد ۲ صفحه ۴۸۱ :

حدثنا أبو داؤد قال حدثنا أبان عن يحيى بن أبي كثير عن زيد بن سلام عن أبي سلام عن الحارث قال قال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و أنا أمركم بخمس.

د پنځه شیانو امر درته کوم :

امرني الله عزوجل بهن. ماته زما رب کریم په هغې امر کړې دي.

الجماعة. یو به د جماعت اهلسنت نه، نه جدا کیږي دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منعه کنایة او اشاره کوي چې د اهلسنت والجماعت عقیده به نه پریږدي.

والسمع. د علماء اقوال به اوري. **والطاعة.** د بادشاهانو به اطاعت کوي.

والهجرة. تکلیف دربانديږ راغې کافر دربانديږ مسلط شو هجرت به کوي.

والجهاد في سبيل الله. او جهاد في سبیل الله به کوي.

دا والسمع، سمع د اقوالو د علماو ده او والطاعة طاعت د أمراء ده دا دوه ډیرې ضروري خبرې دي خوارج ددې زمانې چې وهابیان او اهل حدیث دي هغوي ددغه بنیادي اصل مخالفت کړې دي سمع د اقوال الفقهاء نه کوي وايي د چا خبرې اورېدو ته څه ضرورت دي قرآن او حدیث نه اخذ کوو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سمعه لازمه کړې په امت باندې چې تاسو به اقوال د فقهاء اوري طاعت د امراء به کوي بیا فرمایي :

فمن فارق الجماعة قيد شبر. څوک چې د اهلسنت والجماعة د ډلې نه یو ولویشت هم وځي جدا شي.

فقد خلع ربقة الاسلام او الايمان من عنقه. راوي شک کوي.

د اسلام یا د ایمان کړه یې د څټ نه بهر شوه.

او الايمان من رأسه. یا یې دا الفاظ ویلي : **الا ان يراجع.** مګر چې رجوع وکړي.

دارنګې المحرر الوجیز جلد ٦ صفحه ۳۳۴ چې داد محاربې تصنیف دي په ۵۴۲ کې

Scanned by CamScanner

وفات دي :

وقال الحسن: حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

ادركت ثلاثمائة من الصحابه. دري سوه (۳۰۰) صحابوو ملاقات مې کړې دي.

منهم سبعون بدريا. اويا (۷۰) بدري صحابوو سره مې ملاقات کړې دي.

كلهم يحدثني. ټولو راته حديث بيان کړې دي.

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال من فارق الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه. څټ نه يې د اسلام کړئ وځي.

فالجماعة. وايي جماعة څه ته وايي.

ان لا تسبوا الصحابة.

اجماعي اصول هغه زمانه کې داوه ځکه هلته خوارج او روافض وه خوارجو حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته کنځل کول او روافضو حضرت معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته کنځل کول نو حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي جماعت د اهلسنت داده :

ان لا تسبوا الصحابة. صحابوو ته به کنځل نه کوي.

ولا تماروا في دين الله. د خدای په دين کې به جګړې نه کوي.

عقيده کې به اختلاف نه کوي دين الله نه مراد عقيده ده او ممارات مخاصمه ده جګړه به په عقيده کې نه کوي.

ولا تكفروا أحداً من أهل التوحيد بذنب. مسلمان به د ګناه په وجه نه کافر کوي.

همدغه عبارت الكشف والبيان عن تفسير القرآن را اخيستي جلد ۹ صفحه ۲۸۲، او تفسير الثعالبي را اخيستي جلد ۴ صفحه ۷۵ کې.

غريب الحديث لابن قتيبة جلد ۱ صفحه ۳۱۸ کې بل روايت ذکر کوي :

ان الله لم يرض بالوحدانية. په ځانوالي الله تعالی نه راضي کيږي خدای تعالی د جماعت سره دي له ځانته والي سره نه دي چې سړي جمع غفيره پريږدي او ځان له بيله ډله جوړه کړي.

Scanned by CamScanner

وما كان الله ليجمع امتي على ضلالة بل يد الله عليهم فمن تخلف عن صلاتنا وطعن على ائمتنا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه .

څوک چې ځان ته شو زمونږ د امامانو پسې مونځ پريخودو زمونږ په ائمو ويې طعنه شروع کړه د اسلام کړئ څټ نه بهر شوله .

شرار امتي الوحداني . زما په امت کې بد سړي هغه ځانته ډلي والا دي .

المعجب بدينه . هغه چې په خپل دين ډير خوشحال دي .

والمرائي بعمله . هغه چې رياکار په عمل دي .

المخاصم بحجته . هغه چې دليل باز او جګړه مار دي .

دا زما امت کې شري سړي دي . او بيا ليکي :

من عمل لله في الجماعة . څوک چې اهلسنت والجماعة کې يو عمل کوي .

تقبل الله منه . الله به يې ترې قبول کړي .

وان أخطأ . او که خطا شو .

غفر الله له . بخښنه به ورته وکړي .

ومن عمل لله في الفرقة . که چا د اهلسنت نه تفرقه وکړه او د خداى د رضاء لپاره يې عمل کوه .

فأصاب . حق ته هم ورسيده .

لم يتقبل الله منه . بيا يې هم ترې خداى تعالى نه قبلوي .

فان أخطأ . او که لا پسې خطاء شو .

فليتبوأ مقعده من النار . بيا خو دې جهنم کې ټيکانه تياره کړي ځان ته .

که جماعت د اهلسنت سره وي حق ته رسيدلي خو اجر دي که نه رسيدلې خطاء وي بخښنه ورتـه کيږي ، کـه ددې نـه احداني وي پـه تفرقـه کې واقـع شـوې کـه حق تـه پـه کې ورسيدلي اجر نشته او که ونه رسيدلي جهنم دې ټيکانه ده .

Scanned by CamScanner

ان أمتي لا تجمع على ضلالة فاذا رأيتم الاختلاف . كله مو چې اختلاف وليدلو .

فعليكم بالسواد الأعظم . تاسو اتباع د سواد اعظم وکړي جمع غفيره يادوي .

وليست كل جماعة اجتمعت هي في هذه السواد الأعظم . هره ډله چې راغونډه شي اجتماع جوړه کړي دا وايي سواد اعظم نه دي .

انما السواد الأعظم جملة الناس . سواد اعظم ټول خلک دي .

التي اجتمعت على طاعة السلطان . هغه چې د بادشاه په اطاعت را غونډ وي .

براً كان او فاجراً . نيک بادشاه وي که فاجر بادشاه وي .

ما اقام الصلواة . څو چې مونځ کوي ، په مانځه چا وليد چې مونځ کوه بادشاه دي او نور ظالم فاجر دي نو د هغه اتباع به کوي نيک وي که فاجر .

المعجم الكبير د طبراني جلد ۱۰ صفحه ۲۰۸ :

عن سعيد بن جبير عن ابن عباس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من عمل لله في الجماعة فأصاب قبل الله منه وان اخطأ غفر له ومن عمل يبتغي الفُرْقَةَ فأصاب لم يتقبل الله منه وان اخطأ فليتبوأ مقعده من النار .

دا صرف ترغيبات وه اتباع د اهلسنت والجماعة لره او اجتناب وه ترهيبات وه د تفرقې نه چې څه خير په کې نشته دي دا لوي نوم د اهل سنت والجماعة لره چې جامع دي اربعة مذاهب لره او جامع دي اربعة طرق د صوفيوو لره او فرقتين د اهل عقائدو لره .

الفرق بين الفرق امام عبدالقاهر بن طاهر بن محمد بغدادي چې کوم فرق د اهلسنت ياد کړې دي نو په هغې کې د غه جماعت ټول راغونډ کړي صفحه ۲۷٦ کې باب لګوي : في بيان اصناف اهل السنة والجماعة . د اهل سنت والجماعت د ډلو څو مره صنفونه دي او څو مره نوعې دي :

صنف منهم احاطوا علماً بأبواب التوحيد والنبوة واحكام الوعد والوعيد والثواب والعقاب وشروط الاجتهاد والامامة والزعامة وسلكوا في هذا النوع من العلم طرق الصفاتية من المتكلمين

Scanned by CamScanner

الذين تبرأوا من التشبيه والتعطيل .

اول جماعت د متكلمينو يادوي خو هغه متكلمين چې د تعطيل او تشبيه نه پاک دي او بيزار دي مشبهه معطله نه وي وايي داد اهلسنت نه دي .

والصنف الثاني منهم ائمة الفقه من فريقي الرأي والحديث .

څه محدثين دي او څه مجتهدين د فقه دي دا دواړه جماعت دي نو بيا په دغه فقهاء او محدثينو کې به هغه مراد وي چې :**تبرأوا من القدر والاعتزال** چې نه قدريه وي نه معتزله وي.

نخبنه به يې دا وي چې رؤية د خداى تعالى په ورځ د قيامت کې دا به مني .

من غير تشبيه ولا تعطيل . بغير د تشبيه او تعطيل نه حشر د قبورو به مني **مع إثبات السؤال في القبر** به مني **ومع إثبات الحوض والصراط** به مني د شفاعت به قائل وي دوام د **نعيم الجنة** به قائل وي دوام د **عذاب النار على الكفرة** به قائل وي .

ګورئ دوام على الكفرة او دوام د نار ابن تيميه او ابن قيم دې کې مخالف و، قول به کوي **بإمامة ابي بكر وعمر وعثمان وعلي رضي الله عنهم.**

واحسنوا الثناء على السلف الصالح من الأمة .

سلفو پسې به بد نه وايي من الامة .

ورأوا وجوب استنباط أحكام الشريعة من القرآن والسنة ومن إجماع الصحابة .

د استنباط د احكامو ددې اصولو نه به قائل وي .

جواز المسح على الخفين به قائل وي ووقوع الطلاق الثلاث دري طلاقه چې په يو وخت واچول شي دا مغلظ ګرځيږي ددې به قائل وي .

ن صبا وهابيان يې نه دي قائل او دا په څلورو مذهبونو کې د هيچا مذهب هم نه دي صرف د وهابيانو دي دې ليکي چې فقهاء محدثين اهل حديث هغه به د اهلسنت نه وي چې دې د دريو طلاقو قائل وي .

ورأوا وجوب طاعة السلطان . د بادشاه د طاعت به قائل وي د هغه قانون به مني **فيما ليس**

Scanned by CamScanner

بمعصية .

نو اوس وايي :

ويدخل في هذه الجماعة أصحاب مالك والشافعي والأوزاعي والثوري وأبي حنيفة وابن أبي ليلى وأصحاب أبي ثور وأصحاب أحمد بن حنبل وأهل الظاهر .

مراد له اهل الظاهر نه داؤد ظاهري او ابن حزم الظاهري دي چې هغه دواړه د اهل زيغ نه ، نه وه اهل سنت وه خو اهل ظواهر وه .

(٣) دريمه ډله د اهلسنت والجماعة وايي محدثين د اسماء الرجال وه .

(٤) څلورمه ډله هغه علماء او ائمه د ادبو او نحوې چې عقيده يې د اهل سنت وي .

(٥) پنځمه ډله صاحبان د قراءات سبعه وو دي .

(٦) شپږمه ډله الزهاد الصوفية . زاهدين صوفيه دي .

الذين أبصروا فاقصروا واختبروا فاعتبروا ورضوا بالمقدور وقنعوا بالميسور وعلموا أن السمع والبصر والفؤاد كل اولئك مسؤول عن الخير والشر .

اوږد بيان يې دې کې کړې دي په آخره کې وايي :

والاعراض عن الاعتراض : ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء والله ذو الفضل العظيم .

اومه ډله د اهل سنت : قوم مرابطون في ثغور المسلمين في وجوه الكفرة .

هغه دي چې د کافر مقابله کې په اول خط کې په جهاد باندې بوخت وي وايي داد اهلسنت يو جماعت دي .

اتم جماعت : عامة البلدان التي غلب فيها شعار اهل السنة دون عامة البقاع التي ظهر فيه شعار اهل الاهواء الضالة .

عام مسلمانان د ملکونو شول چې هغلته د اهل سنت شعارات ښکاره وي نه د اهل زيغ شعارات .

نو خلاصه دا چې اهل سنت دغه جماعات دي چې کوم ائمه د تفسير دي ائمه د عقائدو دي د نحوې دي او صوفيه دي فقهاء دي او محدثين دي .

Scanned by CamScanner

الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۵۵ مقالات اجماعيه د خوارجو ذکر کوي :

وقد اختلفوا فيما يجمع الخوارج على افتراق مذاهبها . ددوي مذاهب خپلو کې مختلف دي ډيرې ډلې دي خو هغه چې دوي پرې راغونډ دي هغه دادی :

اكفار علي وعثمان والحكمين واصحاب الجمل . ددې صحابوو او د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وخت کې چې کوم دوه حکمين وه هغه جنګ صفين کې اصحاب جمل د عائشې بي بي هغوي.

وكل من رضي بتحكيم الحكمين . ددوي د کفر قائل دي .

والاكفار وبارتكاب الذنوب . څوک چې ګناه کوي وايي کافر دي .

ووجوب الخروج على الامام الجائر . او وايي چې د ظالم بادشاه مقابله کې خروج واجب دي دا اجماعي عقائد د خوارجو دي چې چيرته خارجي وي دا عقيده به يې وي چې د ظالم بادشاه مقابله کې به پاڅيږي اهلسنت والجماعة وايي چې د کافر بادشاه مقابله کې به پاڅيږي د ظالم بادشاه مقابله کې به نه پاڅيږي ځکه نيکه ثمره يې نشته ده چې پاڅيدلي .

ددغې عبارت لپاره زه درته د حاشيه رد المختار على در المختار عبارت ذکر کوم چې اجماعي عقائد يې دادی چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حکمين او اصحاب جمل تکفير به کوي نو ددغه عبارت جواب علامه شامي رَحِمَهُ اللهُ کړې دي چې داد هغه زمانې خوراج داسې وه هره زمانه کې خوارج داسې نه دي چې هغه تکفير د صحابوو کوي .

حاشيه رد المختار جلد ۴ صفحه ۲۶۲ هلته عنوان داده :

مطلب في اتباع عبدالوهاب الخوارج في زماننا .

د محمد بن عبدالوهاب تابعدارن چې خوارج دي زمونږ په زمانه کې د هغوي تفصيل .

ويكفرون أصحاب نبينا . علمت . تاته معلومه ده .

ان هذا غير شرط في مسمى الخوارج . دا شرط نه دي په تسميه د خوارجو کې چې خامخا به خوارج تکفير د صحابوو کوي .

بل هو بيان لمن خرجوا على سيدنا علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. هغه زمانه کې چې خروج کړې وه د

Scanned by CamScanner

هغوي دا عقيده وه .

والا فيكفي فيهم اعتقادهم كفر من خرجوا عليه . دومره كافي ده چې ددوي مقابله کې څوک وي هغوي ته به کافر وايي .

كما وقع في زماننا . لکه زمونږ زمانه کې دغه مرض واقع دي .

في اتباع عبدالوهاب . د محمد بن عبدالوهاب يادوي .

الذين خرجوا من نجد وتغلبوا على الحرمين . او په حرمينو غالب شو .

وكانوا ينتحلون مذهب الحنابلة . وه دوي چې ځان ته به يې حنابله وويل .

لكنهم اعتقدوا . مګر عقيده ددوي دا وه .

انهم هم المسلمون وأن من خالف اعتقادهم مشركون . چې هم دوي مسلمانان دي او ددوي مخالف په عقيده کې مشرکان دي .

واستباحوا بذلك . په دغه عقيده دوي ځان ته روا کړې وه .

قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتى كسر الله تعالى شوكتهم . تر دې چې مات کړو خدای تعالى قوت ددوي .

وخرب بلادهم وظفر بهم . خراب شول ښارونه ددوي او کامياب شول په دوي .

عساكر المسلمين . عساکر د مسلمينو .

عام ثلاث وثلاثين ومائتين والف . ۱۲۳۳ سنه کې دا يو عظيم جنګ له دوي سره تير شوې دي .

حكايت :

۴۰۰ کاله وړاندې د عربو بادشاه ابو سعود نوميده او د برطانيه نه يو جاسوس راغلو په نوم د عثمان باندې دا عثمان ۲۴ کاله په عربو کې تير کړل او داسې عربي ده زده وه چې هيڅا هم دا ګمان نه کوه چې دا به انګريز وي خو وه برطانوي آو بيا ده تلاش وکړو چې د عربې د زده کړې او د علم د زده کړې نه وروسته د يوې غټې کورنې سړې يو عالم لاس کې ونيسم نو

Scanned by CamScanner

د محمد پلار عبد الوهاب په فقه حنبلي کې ډیر معروف وه او ده دوه مدرسې لرلې یوه یې په سرحد د شام باندې په عربو کې عظیمه مدرسه وه او بله مدرسه یې په ریاض کې وه خو دې د معروفو علماو نه وه او دده دا ځوي چې وه محمد لږ لږ سبقونه یې ویلې وه پوخ ملا نه وه خو ډیر سخت لوچک وه ډاکې او غلاګانې به یې کولې نو پلار یې مجبور شو چې دا ځوي علم نه کوي نو ده ته یې وویل چې له درزي خیاط سره کینه هغه به درزیتوب نه کولو خو ددې درزي ډکان ته به تلو راتلو .

دا عثمان چې وه دا جاسوس ده تلاش شروع کړو چې زه په څه شکل باندې د عبدالوهاب کورني کې سړي پیدا کړم دا معروف دي خلک یې مني نو دغه دکان ته به دا محمد راتللو نو دا عثمان هم دلته رابلد شو ددې درزي دکان ته به عثمان هم راتلو او محمد به هم راتلو له دې ځای نه ددې برطانوي جاسوس سره دده انډیوالي شروع شوه بیا د هغې نه بعد په مرور د وخت سره دده پلار چې کله وفات کیږي خو دې خت کې محمد دې ته اماده کړې وه چې ډیرو علماء ته به یې کافر ویلې ځای پر ځای پرچار شروع کړې وه نو پلار یې دومره له ده نه تنګ شو چې دا نجد یې پریښودلو او هغه بلې مدرسې ته سرحد اتو د شام ته لاړلو .

په دې آخري ورځو کې شیخ زین د حلان ۱۲۰ کاله وړاندې د مکې مکرمې خطیب وه هغه په تاریخ مکه کې دا اشاره کړې ده چې هغه رسائل ما پیدا کړي دي چې کوم په مرض موت آخري وخت کې دې عبدالوهاب د خپل ځوي په رد باندې لیکلي دي هغه بیا یو څو پاڼې ولیکلې عربو ته چې زه ضعیف یمه او درنه ځمه خو زما دا ځوي ګمراه دي ورپسې لاړ نه شي او زما له وجې نه دده اتباع څوک ونه کړي .

نو هغه پاڼو ته د حلان اشاره کړې ده بیا یې پلار وفات شو او د هغه پلار د نوم او مدرسې نه محمد استفاده وکړه او څه رسائل یې ولیکل په مشوره د عثمان باندې او په هغې کې ډیرو زیاتو خلکو ته د کفر نسبتونه وه په مرور د وخت سره دوي دا کوشش شروع کړو چې دوي دسعودي بادشاه ابي سعود نومیده چې له ده سره دا عثمان ملاقات وکړي په واسطه د محمد باندې او د سعودي بادشاهي په برطانیه خرڅه شي خو له دغه وخت سره د عثماني خلافت ډیر نوم او زور وه .

Scanned by CamScanner

دا کارونه به ډیر مخفي کیدل کفارو ته به ښکاره چالاس نه شو ورکولې او په ټوله دنیا کې د مسلمانانو نوم وه برطانیه او نور کفار په ډار کې وه دا روم چې یادیږي سپین داد مسلمانانو دار الخلافة وه.

اروپا ټوله په لاس د مسلمانانو فتحه شوې وه لږ څه پاتې وه نو دې چې راغې دد غلته اوله کاروایي دا وکړه چې په ریاض کې د زید ابن الخطاب د عمر فاروق رضي الله عنه ورور وه د هغه د قبر په سر ګنبط وه نو دې عثمان ته محمد وویل چې زه دا ګنبط ورانوم هغه ورته وویل چې د وخت ګورنر به دې مخالف شي دا زما او ستا تحریک پټ روان دي دا مه کوه وایي نه د شپې کولنګ او بیلچه را واخیستله.

نو د زید بن خطاب دا قبریې وران کړو چې دا یې وران کړو ګورنر ته اطلاع لاړه جلب پسې خپور شو چې محمد ونیسي محمد سره د عثمان وتښتیده مدینې منورې ته لاړل ددې مینځ کې تقریباً ۱۸۰۰ کلو میټره فاصله ده، مدینې منورې ته چې لاړ هلته وه نو هلته خلکو روضه کې سلام کولو نو محمد عثمان ته وویل چې دا خلک څه کوي هغه ورته وویل چې تاسو شیخ یاستي عالم یاستي ستا خیال څه دي چې دا خلک څه کوي؟ هغه ورته وویل:

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ سورة اعراف آيت : ۱۳۹.

هغه د موسی عليه السلام چې:

﴿فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡ﴾.

العیاذ بالله د نبي عليه السلام روضې نه یې هغه بوت دغویې جوړ کړو او دا زائرینو ته یې د هغه مشرکینو نسبت وکړو.

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

بیا دلته ددوي له ابي سعود سره ملاقات وشو چې ملاقات وشو نو په دغه ملاقات مخفي کې چې دري کسیز ملاقات وه ابي سعود یې خپل نظر ته واړوه دا ضرور نه ده چې خامخا به ددوي عقیدې ته اوښتې وي خو هغه د عثمان په لاس چې څه مواد د برطانیه وه هغه خبره سره وشوله.

ددوي تاریخ زه تاسو ته دې ځای پورې بیانوم ددوي تاریخ د کتاب التوحید مقدمه د بدخشان یو وهابي په فارسي کې لیکلي ده په هغې کې دا را اخلي چې د زید بن الخطاب قبر

Scanned by CamScanner

يې له خاورو سره خاوري کړو .

اولين مجاهدات شيخ نجدي دا يې عنوان دي اول جهاد واي د شيخ نجدي څه وه وايي د زيد بن الخطاب قبريې وران کړو لکه دا قصه ددوي په کتاب کې موجود ده بيا يې دا هم را اخيستي چې له ابي سعود سره ملاقات چې کيدلو نو دري په درې ملاقات وشو .

﴿إِنَّ هَٰؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

دا دعوی ددوي کتاب کړې ده بدخشاني وهابي د شيخ نجدي حالات ذکر کړې دي په مقدمه د کتاب التوحيد کې دا خبره هم کوي چې کله ددوي له ابي سعود سره ملاقات وشو دوي ورته وويل چې مونږ تا ته يو راز ښکاره کوو په دې شرط يې ښکاره کوو چې ته مونږ ته حلف قسم وکړه نو بيا به درته راز ښکاره کړو وايي ابي سعود ورته قسم وکړو نو بيا وايي دوي ورته راز ښکاره کړو او رازيې نور نه دي ويلي چې دا څه راز دي که دا راز د جاسوسي نه وي او سعودي ملک په برطانيه خرڅول نه وي او اسلامي دعوت وي نو اسلامي دعوت باندې څوک چا ته قسم ورکوي چې هلکه حال مه وايه قسم درکوم در ته خو دا هغه څه پټ راز وه ددوي په مينځ کې چې عثمان راوړي وه ابي سعود يې پرې خرڅ کړو .

بيا په مرور د وخت سره د شيخ نجدي قضاء راغله دا بي سعود بادشاهي وه او علماء د اهلسنت يې په شهادت ورسول ددوي دا دوره څه کم دوه سوه (۲۰۰) کالو پورې وچليد له لکه علامه شامي چې ورته اشاره کوي تقريبا څه د پاسه زر (۱۰۰۰) سنې نه شروع شوه او ۱۲۳۳ سنې پورې بيا عثماني خلافت عراق ته امر وکړو چې ته پرې جنګ شروع کړه عراق يو څه جنګونه وکړل خو ناکام شو .

بيا دويم ځل مصر عراق او کويت دا درې شريک کړل سره دا علامه شامي چې اشاره کوي ورته په ۱۲۳۳ سنه کې پرې عساکر د مسلمينو کامياب شول نو دا عساکر د مصر عراق او کويت دي په قومنده د عثماني خلافت باندې بيا په دې وهابيانو جنګ شوې دي او حرمين يې ترې صفا کړي او خالي کړي دي بيا له دې نه وروسته تقريبا ۱۲۰ کاله د ترکانو خلافت راغې خلافت عثماني په سعودي باندې دا آبادي د حرمينو داد هغې آثار دي او په رياض کې زياته ابادي د ترکانو اوس هم ده ډير ترکان په عربو کې اوس هم ميشت دي .

رياض ته چې زه تللې وم زياتو خلکو به چې ما به خبرې ورسره کولې واي زه ترکي يمه

Scanned by CamScanner

هلته پاتې شوې دي اوسه پورې شته دي نن نه اتيا (۸۰) کاله مخکې دا شاه عبد العزيز چې وه داد هغه ابي سعود لمسي وه او دا عبد الله بن باز چې وه د نجدي لمسي وه په تلويزون ددوي خطبه راځي د عرفات خطبې ته عبد العظيم بن عبد الله بن باز د عبد الله بن باز ځوي اوس راولي سپين ږيري دي په ستر ګو ړوند دي هغه راولي اکثر بيان ته نو تلويزون باندې اکثره همدغه عبد العظيم بن عبد الله بن باز آلُ شيخ داده سره چې راځي الُ شيخ نه مراد شيخ نجدي دي داد هغه شيخ اولاد دي.

برطانيه قانون دا ايښي دي چې غټه قرباني اسلامي ملکونو کې مونږ ته اولين ابو سعود کړې ده او په علماء کې غټه قرباني شيخ نجدي کړې ده په سعودي چې بادشاه راځي دا به د ابو سعود له اولاد نه وي نو داد شاه عبد العزيز خاندان داد ابو سعود اولاد دي دا سعودي هم ددوي په نوم ياديږي هغې نه مخکې به دې ته جزيرة العرب ويل کيدله.

او دا کوم چې قاضي القضاة يې د شيخ نجدي له اولاد نه راځي دا سلسله په دغه شکل اوس هم جاري ده نو اتيا (۸۰) کاله وړاندې دا شاه عبد العزيز چې ده دا په کويت کې وه سعودي نه تښتيدلي وه او له ده سره ډير ډاکوان وه غلاګانې به يې کولې چې کله عثماني خلافت په کمزوري کيدو شو برطانويانو بيا د هغه ابي سعود لمسي عبد العزيز ته لاس ورکړو او هغه ته يې وويل چې راځه د ډاکو پر ځای جهاد شروع کړه.

د ترکانو په خلاف يې را پورته کړو ۲۳ کاله بيا شاه عبد العزيز ترکانو سره جنګ کړې دي داد سعودي د ۱۱ جماعت کې د تاريخ چې کوم سبق ويل کيږي په مکتبونو سکولونو کې هغې کې شته ما له ځان سره دا تاريخ راوړې دي ددوي د تاريخ قيصه درته شروع کومه چې دوي خپلو طالبانو او سکوليانو ته کوم تاريخ وايي نو دوي تاريخ د محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بيا نوي بلکې تاريخ د شاه عبد العزيز بيانوي ورته هلته په تاريخ کې دا را اخلي او په هغې کې راځي فتحه مکه فتحه مدينه فتحه د طائف دا چې دوي کوم جنګونه له ترکانو سره کړې دي او مکه يې فتحه کړي مدينه او طائف يې فتحه کړي هغه ددوي غزوات دي نو هغه ما ټول مطالعه کړو اول نه تر آخره پورې.

خو نچوړ دادی چې دوي ۲۳ کاله بيا جنګ کړې دي کله يې چې رياض ونيوه او حرمين د ترکانو په لاس کې وه نو ۱۳ کاله بيا هم جنګ پاتې شو سرحداتو کې جنګ وه حرمين له

Scanned by CamScanner

ترکانو سره وه او نور د شاه عبدالعزیز تر واک لاندې وه نو بیا هغه وه چې ترکان آخر مات شول په کوشش د برطانیه باندې او دوی په دغه علاقو غالب شول نو دا دویمه دوره ده چې په حرمینو دوی بیا راغلي دي مخکښي دوره یې څه کم دوه سوه (۲۰۰) کاله تیره کړې ده خو د هغې دوري او د اوسني دورې ترمینځ تقریباً ۱۲۰ کاله ترکانو حکومت کړې ده او ددوي هغه نظام یې ختم کړي .

شامي دغې ته اشاره کوي :

حتی کسر الله تعالی شوکتهم وخرب بلادهم وظفر بهم عساکر المسلمین .

داد مصر او عراق مسلمانان دي .

عام ثلاث وثلاثین ومائتین والف .

بیا وروسته ذکر کوي .

وحکم الخوارج عند جمهور الفقهاء والمحدثین حکم البغاة وذهب بعض المحدثین الی کفرهم . بعضې محدثین ورته کافر وایي .

اکثر محدثین وایي چې جهاد پرې هله کیږي چې دوي د بادشاه مقابله کې ودریږي نو بیا یې حکم د بغاتو دې وژلې شي او که مقابلې ته پورته شوې نه وي بیا یې حکم د قتل نه دي داد احنافو نه وه کوم عبارت چې ما تاسو ته د شامي ذکر کړو .

زمونږ ډیر احناف ورونه ما ته متشدد وایي زما څه تشدد دي زه خو هره خبره الحمد لله دلیل سره کومه زه خو ناقل د عباراتو یمه مانه څه تشدد شوې دي بس یا کتابونه نه کتل دي یا یې د ایمان کمزوري ده ماته متشدد وایي .

د نمک منډي یو شیخ ته ورغلم څه مسئله وه زه یې نه پیژندلم ما سره یو طالب هم وه هغه راته وویل چې ځان ورته مه ښایه ما ورته وویل صحیح ده زما خپل څه ضرورت وه یوه فقهي جزي مسئله وه چې کیناستلو وایي ستا نوم څه دي زړه کې مې وویل څه اوس به دروغ ورته وایي خپل نوم مې ورته واخیستو بیا یې ښه په عزت کینولم .

وایي چا راته ویلي دي چې ډیر متشدد یې ما ورته وویل چې کیسټ دې اوریدلي که چا درته ویلي دي وایي نه طالبانو راته حکایت کړې دي ما ورته وویل چې طالبان د نن

Scanned by CamScanner

زماني خو حاشیو ته ناست وي په هر متن حاشیه لګوي ما ورته وویل چې دا خو اوزګار دي که کیسټ دې اوریدلې وي صحیح ده وایي نه طالبانو نه جنګي چرګان مه جوړوي او دا بښه کار نه دي بس زه غلي شو مه او خپله مسئله مې ترې حل کړه .

نو له ده سره مکتبه کې شامي پرته وه ما ورته وویل شیخ صاحب دا شامي زمونږ فقه حنفي کې څنګه کتاب دی وایي چې دا خو ډیر ښه مضبوط کتاب دي ما وویل څه تفردات کمزورې خبرې لري وایي نه نه چې مفتي وي او شامي نه لري فتوی دې وایي پریږدې سخت صفتیې د شامي شروع کړوه .

دده خو اوس هغه خبره له یاده وتلې وه چې ما خو ده ته یوه خبره کړې وه ما ورته وویل چې علامه شامي ۳ جلد کې یوه خبره کړې ده د محمد بن عبد الوهاب نجدي دا عبارت مې ورته ذکر کړو چې دا خوارج دي او د خوارجو باره کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي :

لئن أدركتهم لأقتلنهم قتل عاد .

که ما را لاندې کړه دا زمانه زه یې د عادیانو غوندې وژنم .

بس ده سره نوره بله خبره نه وه ما ته وایي چې ته د خوارجو مقابله کوي تا نه خو غټ مجاهد بل نشته ذي ، بیا یې ما ته وویل چې تر ډیر وخته زما شک وه چې دا به خوارج نه وي نو د هغه شیخ صاحب دې یوسف آباد کې د رستمي سره خوا کې مسجد دي وایي دلته د محرم ۱۰ ورځې شیعه ګان چې کومې کارنامې د حسنینو بیانوي وایي دلته ۱۰ ورځې رستمي په حجرو کې د یزید کارنامې بیانوي وایي ما ته یې څو ځل دعوتونه راکړه زه ورنغلم .

وایي یو ځل مې طالب ولیږلو چې راغې هغه وویل چې ټول بیان د یزید په صفاتو کیدلو وایي زه یقین ته ورسیدلمه چې وهابیان خوارج دي .

د نمک منډي شیخ صاحب دا خبره ما ته وکړه وایي دا خو همغه یزیدیان دي بیا یې ما ته د علامه سندي عبارت وویل ما خو لیدلې وه وایي دا خو د دیوبند علماء هم دا رایه لري حاشیه د نسائي کې علامه سندي وایي چې :

لئن ادركتهم لأقتلنهم قتل عاد .

ددې له پاسه لیکي هغه حاشیه کې چې متبعین د محمد بن عبد الوهاب نجدي چې مسمی دي په وهابیانو سره غیر مقلدینو باندې .

Scanned by CamScanner

هم فرقة من الخوارج . داد خوارجو يو جماعت دي دا خو د احنافو نه ده .
د ديوبند له علماء په عقائد و علماء ديوبند کې استفتاء تري شوي د وهابيانو متعلق هغوي دا ويلي :

نحن نفتي في حقهم بما افتى به الشامي .
زمونږ د وهابيانو متعلق دا فتوى ده چې کومه شامي ورکړې ده او شامي خو ورته خوارج ويلي دي .
تفسير صاوي د شوافعو نه دي د سورة فاطر په دې ايات باندې :
﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ﴾ .
دې حزب باندې وايي چې د شيطان حزب وهابيان دي عبارت ته ګوري :
وفي هذه الايات نزلت في الخوارج الذين يحرفون تأويل الكتاب والسنة ويستحلون بذلك دماء المسلمين وأموالهم .
د مسلمانانو وينې پر حلالي ګڼي .
كما هو مشاهد الآن في نظائرهم . لکه دا خبره ښکاره ده نن وخت کې په امثالو د خوارجو کې .

وهم فرقة . چې دا يوه ډله ده .
بأرض الحجاز . د عربو په علاقه .
يقال لهم الوهابية . چې وهابيان ورته وايي .
يحسبون . دوي ګمان کوي .
أنهم على شيء . چې دوي په څه دين باندې دي .
ألا انهم هم الكاذبون . دروغجن دي .
استحوذ عليهم الشيطان . شيطان پرې غلبه حاصله کړې .
فأنساهم ذكر الله . د خداى ذکر يې ترې له ياده ويستلې . ٨

Scanned by CamScanner

اولئك حزب الشیطان الا ان حزب الشیطان هم الخاسرون نسأل الله الکریم ان یقطع دابرهم.

د خدای نه دعاء غواړو چې خدای دې بیخ کندي وکړي دابر دي خدای ورختم کړي.

دا تفسیر الصاوي د جلالین حاشیه ده هغه اسم ددوي اخلي باقي پخواني دله نه ده خوارج پخواني دله ده هر کتاب پرې رد کوي او وهابیان نوي راوتلي خلک دي دې وختو کې تفاسیر هم چا نه دي لیکلي او د فقه نوي کتابونه هم چا نه دي لیکلي تصانیف هم کم دي دا څه ناڅه چې شته دي او دوي نه وروسته لیکلي شوې دي هغوي پرې رد کړې دي لکه علامه شامي کړې دي علامه سندي کړې دي دیوبند علماء پرې کړې دي، علامه صاوي پرې کړې دي که دا داسې پخواني جماعت واي نو هریو به ددوي نوم اخیستي.

وایي چې دا خوارج دي او په خوارجو کې فلاني جماعت دي سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۲۲۶ ددې لپاره درته څه احادیث ذکر کوم چې څه ناڅه نفرت به له خوارجو نه زړونو کې لري خو دا نفرت دې خدای ستاسې زړونو کې دومره زیات کړي لکه څومره چې زما دې چې سم مو بدي راشي ددې لپاره مې دا حدیث را اخیستي دي.

حماد بن سلمة عن ابي غالب نه روایت کوي:

قال رأى أبو أمامة رءوسًا منصوبة على درج مسجد دمشق. مجاهدینو په خوارجو جهاد کړې وه اویا (۷۰) علماء ددوي حلال کړې وه تنې یې ورته دشته کې پرېښې وې او سرونه یې ترې راوړل د دمشق او حلب ښار په غټ دیوال یې کېښودل د عبرة لپاره چې ټول خلک یې وګوري چې بیا څوک خارجي نه شي نو دلته ابو امامة رضي الله عنه رابهر شو چې ګوري دلته دا سرونه دي ددې اویا (۷۰) سرونو باره کې په کتاب الخوارج کې مصنف ابن ابي شیبه وایي

چې اکلت السجود جباههم ددې اویا واړو تندي وایي سجدو خوړلي وه یعنې د سجدو ټاپې په کې وې تورتاکي یې لرل هلته سرونه پراته دي.

فقال أبو أمامة كلاب النار. دا سپي د جهنم دي.

شر قتلى تحت أديم السماء خير قتلى من قتلوه. هغه چې دوي یې مړه کړي وه هغوي وژل شوې دي هغه غوره د قتلي وو دي.

Scanned by CamScanner

د خوارجو مقابله کې څوک شهید شي او بل د مشرک مقابله کې شهید شي او د ستاسو خو دا ګمان دي چې د کافر مقابله کې شهید شي د هغه به اجر اوچت وي په مجمع الزوائد کې د حضرت کعب رضي الله عنه حدیث دي هغه وايي :

ان لقتيل الخوارج فضل ثمانية انوارٍ على قتيل المشركين .

که سړي د خوارجو د لاسه شهید شي دده اجر او نور په اته چنده زيات وي د هغه شهيد نه چې کوم د مشرک مقابله کې شهيد شوي دغه وجه ده زمونږ خلفاء ټول خوارجو شهيدان کړي دي بغير د صديق اکبر رضي الله عنه چې هغه د پاره شهادت د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ورکړې شو چې اثر د زهرو د خيبر وه او له دې نه سوا د حضرت عمر رضي الله عنه شهادت له خوارجو نه دي د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت له خوارجو نه دي د حضرت علي رضي الله عنه شهادت له خوارجو نه دي .

دې نه بعد تقريباً ۵۰۰ کاله مقابلې به داخل دوري اسلامي کې ټولې د خوارجو سره شوې دي د ايران کې به دا ډلې ډيرې پيدا کيدلې د افغانستان په هرات کې ډيرې مقابلې د خوارجو سره شوې دي والي د خراسان کړې دي په امر د عباس کوم خلافت چې جوړ وه د هارون الرشيد په زمانه کې .

نو ابو امامة رضي الله عنه چې دا خوارج وليدل نو بيا يې ولوسته :

﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴾ يوه ورځ ده چې سپين به شي څه مخونه تور به شي څه مخونه .

الى آخر الأية قلت لأبي أمامة انت سمعته من رسول الله صلی الله علیه وسلم. دا تا اوريدلي د نبي عليه السلام نه .

هغه ورته فرمايي :

لو لم أسمعه الامرةً او مرتين او ثلاثاً او اربعاً حتى عد سبعاً ما حدثتكموه .

که مې اوږ ځل نه وای اوريدلې درته به مې نه وي بيان کړې يعنې دا مې اوه کرته اوريدلي دي .

سنن الكبرى للبيهقي جلد ۸ صفحه ۱۸۸، المستدرک على الصحيحن للحاكم مع

Scanned by CamScanner

تعليقات الذهبي في التلخيص جلد ۲ صفحه ۱٦۳، المعجم الكبير للطبراني جلد ۷ صفحه ۳۰٦، المعجم الكبير للطبراني جلد ۷ صفحه ۳۱۳ دې تولو دغه روايت ذكر كړې دې.

دا روستني عبارت د معجم الكبير د طبراني جلد ۷ صفحه ۳۱۳؛

قال سألت ابا غالب عن هذه الاية: ﴿هُوَ الَّذِي أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ﴾.

ما ورته ووېل دا د چا باره کې نازل دي؛

حدثني أبو أمامة. وايي ماته هغه حديث بيان کړو.

عن رسول الله ﷺ قال هم الخوارج. دغه ايات د خوارجو باره کې دي.

وسألته عن هذه الاية: ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ﴾ سورة آل عمران آيت: ۱۰٦.

دا چې مخونه يې توربږي دا څوک دي.

فقال حدثني ابوامامة عن رسول الله ﷺ انهم الخوارج. دا هم خوارج دي.

دارنګې نوادر الاصول في احاديث الرسول جلد ۱ صفحه ۲۲۱:

عن ابي عاكف كنت بدمشق فجيء برؤوس الخوارج من العراق.

ابي عاكف وايي چې زه وم په دمشق کې چې راوړلې شو رؤوس د خوارجو.

فنصبت على درجة المسجد فبينا أنا قائم اذا انا بشيخ على حمار قصير ينظر اليهم ويبكي.

زه ولاړ يمه چې يو سړي دې په خره سپور دي او بره ګوري دې سرونو ته او ژاړي.

ويقول. او وايي.

كلاب النار كلاب النار. د جهنم سپي دي.

فسألت عنه. ما تپوس وکړو چا نه چې دا سړي څوک دي.

فقالوا أبو امامة صاحب رسول الله ﷺ. دا ابو امامة دي.

Scanned by CamScanner

فلا توت منه . زه ورنزدې شوم .

فقلت يا ابا امامة أراك تبكي وتقول كلاب النار .

ګورم تا ته چې ژاړي او بيا وايي چې د جهنم سپي دي نو چې د جهنم سپي دي نو ژاړي ولې .

قال رحمة لهم . ابو امامة رضي الله عنه وويل هسې مې پرې شفقت راغې .

لانهم قد صلوا و صاموا وحجوا واعتمروا ثم صاروا كلاب النار .

ځکه دوي مونځونه کړي وه روژې نيولې وې حجونه يې کړې وه عمري کړې وې او بيا د جهنم سپي هم وګرځيدل .

قلت هذا شيء تقوله ام سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم .

دا خپله خبره کوي او که دې اوريدلي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه .

قال لو لم اسمعه الا مرة او مرتين او ثلاثة او اربعة حتى بلغ عشر مرات ما قلت . که مې لس ځل نه واي اوريدلي نه به مې وه بيان کړي .

ولكن سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول انه سيكون من امتي قوم يقرأون القرآن لاتجاوز قراءتهم تراقيهم .

امت کې به مې يو قوم وي قران کريم به وايي له ستونې نه بنکته به يې نه کوزيږي .

يعبدون الله تعالى عبادة . د خداى تعالى به داسې عبادت کوي .

يحتقرون عبادة الناس في عبادتهم . د خلکو عبادت به د هغوي په مخکې سپک بنکاري .

يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية لا يعود فيه حتى يعود اعلاه فوقه هم شر الخلق والخليقة هم شر قتلى تحت اديم السماء طوبى لمن قتلهم او قتلوه .

خوشحالي ده هغه چا لره چې دوي مړه کړي او يا ددوي له لاسه شهيد شي .

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۵۵ :

Scanned by CamScanner

فدنوت منه . زه ورنژدې شوم .

فقلت يا ابا امامة أراك تبكي وتقول كلاب النار .

ګورم تا ته چې ژاړې او بيا وايې چې د جهنم سپي دي نو چې د جهنم سپي دي نو ژاړې ولې .

قال رحمة لهم . ابو امامة رضي الله عنه وويل هسې مې پرې شفقت راغې .

لانهم قد صلوا و صاموا وحجوا واعتمروا ثم صاروا كلاب النار .

ځکه دوي مونځونه کړي وه روژې نيولې وي حجونه يې کړې وه عمرې کړې وي او بيا د جهنم سپې هم وګرځيدل .

قلت هذا شيء تقوله ام سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم .

دا خپله خبره کوې او که دې اوريدلي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه .

قال لو لم اسمعه الا مرة او مرتين او ثلاثة او اربعة حتى بلغ عشر مرات ما قلت . که مې لس ځل نه واې اوريدلي نه به مې وه بيان کړې .

ولكن سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول انه سيكون من امتي قوم يقرأون القرآن لاتجاوز قراءتهم تراقيهم .

امت کې به مې يو قوم وي قران کريم به وايي له ستونې نه ښکته به يې نه کوزيږي .

يعبدون الله تعالى عبادة . د خداى تعالى به داسې عبادت کوي .

يحتقرون عبادة الناس في عبادتهم . د خلکو عبادت به د هغوي په مخکې سپک ښکاري .

يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية لا يعود فيه حتى يعود اعلاه فوقه هم شر الخلق والخليقة هم شر قتلى تحت اديم السماء طوبى لمن قتلهم او قتلوه .

خوشحالي ده هغه چا لره چې دوي مړه کړي او يا د دوي له لاسه شهيد شي .

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۵۵ :

Scanned by CamScanner

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا اسحاق بن يوسف عن الاعمش عن بن ابي أوفى قال سمعت

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول الخوارج هم كلاب النار.

داد جهنم سپي دي دا اوله فرقه حروريه د خوارجو وه او د هغې په ذم کې چند روايات

ده.

دولس (۱۲) ډلې دي.

فاولهم الازرقية. اول ترې ازرقيه ده دې ته ازارقه وايي.

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۴۹:

منهم الازارقة وهم اتباع رجل منهم يقال له أبو راشد نافع بن الازرق الحنفي.

ازارقه ورته ځکه وايي چې داد نافع بن ازرق الحنفي تابعدار وه لکه وهابيان د محمد بن عبدالوهاب نو په کار خو دا نه وه چې وهابيان ورته ويلي شي خو معروفه شوه د هغه محمد پلار ته منسوب شول، دغه شان دلته هم دي ددوي اصل امير نافع دي خو د نافع پلار ازرق نو ميږي.

ولم يكن للخوارج قوم اكثر منهم عددا واشد منهم شوكة.

خوارجو کې له دې نه غټه ډله د چا نه وه او زيات طاقت هم د چا نه وه ددوي عقيده داده:

قالوا لا نعلم احدا مؤمنا وكفروا اهل القبلة الا من دان بقولهم.

ددوي قول به چې چا منلو هغه مسلم وه او دې نه اخوا ته ټولو ته يې کافر ويلي، احاديثو کې دوي باندې رد راغلي دي.

المعجم الكبير جلد ۷ صفحه ۳۱۷ هغه مخکې چې حديث کې تير شول چې د دمشق مسجد ته چې کوم سرونه راوړل شول نو هغه د ازارقه خوارجو ول، ابو غالب وايي:

جاءت رؤوس الازارقة سبعين رأساً فأقيموا على درج دمشق سبعة ايام فمضت ثلاثة ايام من السبعة.

اعلان دا شوي وه چې دا به اوه (۷) ورځې پراته وي.

وكان اليوم الرابع. څلورمه ورځ وه.

Scanned by CamScanner

فجاء أبو أمامة فركع ركعتين عند سارية وقال كلاب النار ثلاثاً شر قتلى تحت ظل السماء.

دا رنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۸۲ سعيد بن جمهان وايي عبد الله بن ابي اوفى ته راغلمه.

محجوب البصر. ضعيف شوې وه نظر د هغه.

فسلمت عليه قال لي من انت فقلت انا سعيد بن جمهان قال فما فعل والدك.

پلار دې څنګه دې.

قال قلت قتلته الازارقة. هغه خو خوارجو کې ازارقه وو شهيد کړی دی.

قال لعن الله الازارقة لعن الله الازارقة حدثنا رسول الله ﷺ انهم كلاب النار قال قلت الازارقة وحدهم ام الخوارج كلها.

ټول دي که يوازې ازارقه دي.

قال بل الخوارج كلها قال قلت فان السلطان يظلم الناس ويفعل بهم.

دا بادشاه کله ظالم وي نو څنګه به يې کوي د هغه مقابله کې به نه پاڅېږي.

قال فتناول يدي فغمزها بيده غمزة شديدة.

زما د لاس يې ونيوه زور يې ورکړو.

ثم قال ويحك يا ابن جمهان عليك بالسواد الأعظم عليك بالسواد الأعظم.

بادشاه که ظالم هم دي خو دا ټول مسلمانان غلي دي دوي سره ملګري شه د هغه مقابله کې قيام مه کوه، شر مه جوړوه.

دويمه ډله الاباضية: وهم اتباع عبدالله بن اباض.

ګوره دا تابعدار د عبدالله دي خو پلار يې اباض نو ميږي نو اباضيه ورته وايي هغه پلار ته منسوب دي.

وهابيانو اوس دا خوره کړې ده چې مونږ ته وهابيان ځکه وايي چې منسوب دي دا وهاب د خدای صفت دي نو د خدای والا خلک دي نو دوي د خدای والا نه د عبدالوهاب والا خلک دي خو کاشکي صحيح عبدالوهاب والا وي د هغه د ځوي والا خلک دي خو په پلار

Scanned by CamScanner

یې مشهور شوې دي .
اصل کې دا محمد چې د عبدالوهاب ځوی وه چا نه پیژنده محمد په عربو کې د عبدالوهاب په نوم مسمی شو پلار یې معروف انسان وه .
ثم هم فیما بینهم فرق. خپلو کې ډلې لري .
وکلهم یقولون ان مخالفیهم من فرق هذه الأمة کفار لا مشرکون ولا مؤمنون ویجوزون شهادتهم.
له ازارقه وو نه لې بنه دي ازارقه د عامو مسلمانانو شهادت هم نه قبلوي وايي دا مشرکین دي .
ویحرمون دماءهم في السر. او خپلو کې چې ناست وي سره وايي چې وینه تویول یې حرام دي .
ویستبحونها في العلانیة. چې جنګ یې راشي بیا یې وژني .
ویجوزون مناکحتهم. او د اهلسنت سره نکاح روا ګني هغه ازارقه دا هم روا نه ګني دویم قول علامه قرطبي ذکر کوي چې اباضیة دا وه .
قالوا من اخذ بقولنا فهو مؤمن ومن اعرض عنه فهو منافق.
دا اباضیه نن صبا چې دي د مسقط عمان قاضي القضاة اباضي دي او هلته د جامع مسجد امامان ټول اباضیان دي دا اباضیه هلته معروفه ډله ده زه چې کله نوي مسقط ته لاړم نو هغه خلکو ما ته وویل دلته څه خلک دي اباضیان ورته وايي زما خیال ته دا راغله ما وویل دا به بازیان وي عبدالله بن باز ما وویل دا به ده ته منسوب وي .
قابوس د هغوي بادشاه دي د عمان دا او سني تقریباً ۲۸ کاله کیږي خپل پلار یې قتل کړې د هغه په ځای ناست دي او خپل ځان یې چې کله زلمي شي نو برطانیه ته یې ولیږي بیا پرې په رسمي طریقې سره د مسقط ویزه بنده کړې وای دا بیا ما وژني نو ځان خپل ملک کې نه پریږدي ټول په لندن کې دي نو دا بادشاه هم ډیر سخت اباضي دي هلته په هره بناریه کې یو غټ مسجد جوړ وي هغې ته مسجد قابوس وايي تاریخي مسجد وي په هره بناریه کې یو جوړ کړې وي په عربو کې د مسجد نبوي او د حرم د مکي مکرمې نه غیر هغه خو جدا

Scanned by CamScanner

دي نور په عربو کې يا په بل ملک کې داسې مساجد چا نه دي جوړ کړي لکه قابوس چې جوړ کړې او ډيرې خرچې پرې کړي تقريباً هر مسجد په ديرش جريبه کې جوړوي او غټه مکتبه هم په کې وي او ۱۵ علماء وي هغوي ته تنخواهم ورکوي.

نو زه لاړم مکتبي ته چې ننوتم يو غټ کتاب مې په نظر راغې ۲ جلد تاريخ الاباضية چې هغه مې راواخيسته چې مطالعه مې کړو نو راته معلومه شوه چې دا خو بازيان نه دي اباضيان دي.

هلته چې زمونږ څه خلک دي هغوي خو نه پوهيږي هغوي ما ته وويل دلته څه خلک دي بازيان ورته وايي چې دوي پسې مونځ کيږي که نه کيږي نو بيا چې ما تحقيق وکړو نو دا اباضيان وه او دا خپل تاريخ يې ټول را اخيستي وه چې کوم علماء محدثين دوي کې تير شوي وه باقاعده د هغوي تاريخونه يې ذکر کړي وه او ددوي أمراو چې کوم جنګونه کړي وه هغه د حضرت علي رضي الله عنه زمانې نه واخله تر اوسه پورې مستقل تاريخ په کې پروت وه.

بيا مې يوه رساله پيدا کړه په عربو کې چې عبدالله بن باز د مسقط په قاضي القضاة چې اباضي دي په کفر باندې ليکلي وه چې دا کافر دي يوه غټه رساله يې ليکلي چې اباضيان کافر دي خو ستا د سعودي وهابيانو خوارجو نه بيا دا ښه دي ما ذواړه ليدلي دي اباضيان متدين دي د هغوي په نسبت شيخان دي نوافل کوي د ماښام نه بعد د ماز ديګر نه وروسته ناست وي تسبيحات وايي.

داسې دي لکه د وهابيانو صوفيه چې وي تر ډيره وخته چې ماته معلومه نه وه ما ورباندې د صوفيه وو ګمان کوه ما وويل چې دا به کومه سلسله کې داخل وي د هر مانځه نه وروسته ډير طولاني اذکار کوي اوراد وايي.

(۳) دريم جماعت والثعلبية. قالوا. هغوي وايي:

ان الله عز وجل لم يقض ولم يقدر. الله تعالى نه څه فيصلې کړي او نه يې تقدير جوړ کړي.

(۴) څلورم: الخازمية. التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۵۵:

فمنهم الخازمية وهم الاکثرون. دا ډير زيات دي.

Scanned by CamScanner

منهم وافقوا اهل السنة في القدر والاستطاعة والمشيئة . دوي موافقت د اهل سنت لري .

في القدر والاستطاعة والمشيئة .

فيقولون لا خالق الا الله ولا يكون الا ما يريد والاستطاعة مع الفعل ويقولون بتكفير القدرية بهذه المسائل التي ذكرناها .

ليكن فساد دوي کې داده :

ولکن يكفرون عثمان وعلياً والحكمين وقالوا لا ندري ما الايمان والخلق كلهم معذورون .

پنځم جماعت : الخلفية الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۲۵ ددوي تسميه را اخلي :

وهم الذين قاتلوا حمزة ابن أكرك الخارجي .

دا هغه خلک وه چې مخکې تير شو چې د هراة په علاقه يې جنګ وکړو او ۳۰۰۰۰ ديرش زره کسان په کې مړه شول دا خلفيه وه زما په ګمان دا خلفيه چې دي دوي ته اوس سلفيه وايي دا نوم يې ورته ألته کړو ځکه بعضې رايو کې سره شريک دي .

قاتلوا حمزة ابن أكرك الخارجي في ارض كرمان . دا اتباع د خلف وه خلف يو سړي وه .

ذكر الخلفية منهم هم أتباع خلف الذي قاتل حمزة الخارجي والخلفية لا يرون القتال الا مع امام منهم .

وايي جنګ به سره د امام نه کوي .

وقد كفوا أيديهم عن القتال . جنګونه يې بند کړي وه .

لفقدهم من يصلح للامامة منهم . وايي څوک سړي نشته چې د امامت قابل شي او جنګ د هغه رايه لاندې وشي .

وصارت الخلفية الى قول الازارقة في شيء واحد وهو دعواهم ان اطفال مخالفيهم في النار .

ازارقه وو به هم دا خبره کوله چې دا مشران خو يې جهنميان دي خو دا واړه ماشومان د اهل سنت هم کافر دي دا هم جهنميان دي نو دې وايي چې دې خبره کې خلفية قول د ازارقه وو ته ذهاب کړي .

Scanned by CamScanner

وزعموا ان من ترك الجهاد من ذكر او انثى كفر .
گمان كوي چې تارک د جهاد كافر دي دا غلاط خوارج اوس هم دې عقيدې ته رسيدلي دي چې ډير غټ غټ محدثين او مشائخ دي هغوي ته ډير بد نسبتونه كوي .

(٦) شپږم جماعت : الكوزية . قالوا ليس لأحد أن يمس أحداً . يو سړي بل نه شي مسحه كولې .

لانه لا يعرف الطاهر من النجس ولا ان يؤاكله حتى يتوب او يغتسل .

(٧) جماعت الكنزية : قالوا لا يسع احدا ان يعطي ماله احدا لانه ربما لم يكن مستحقاً بل يكنزه في الأرض حتى يظهر اهل الحق .
وايي جائز نه دي چې يو سړي بل ته مال وركړي وايي مستحق نشته بلكې ځمكه كې به يې خزانه كړي حتى يظهر اهل الحق .

(٨) جماعت : الشمراخية . قالوا : لا بأس بمس النساء الاجانب . پردي جينكي مسه كول څه باک نه لري .

لانهن رياحين . دوي كشمالي دي بويه وه يې .
(٩) جماعت : والأخنسية : جزء حديثي في احاديث ذكر الخوارج جلد ١ صفحه ١٠٣ :
اخنسية اصحاب اخنس بن قيس وهم يتبرؤون من كل من لا يوافقهم ولا يسكن في بلاد مخالفهم . څوک چې ورسره موافق نه دي هغوي نه بيزار دي د هغوي په ملک كې او سيدل روا نه گني بل يې دا عقيده ده .
قالوا لا يلحق الميت بعد موته خير ولا شر . مړي پسې له مرګ نه وروسته نه خير رسي او نه شر د ايصال ثواب منكر دي .
(١٠) جماعت والحكمية : قالوا من حاكم الى مخلوق فهو كافر . مخلوق ته فيصله چا يوړه وايي دا كافر دي .
دا اوسني وهابيان او جماعة المسلمين دا د خوارجو په حكميه كې راغلي دي دوي بار بار هر ځاى كې ددې پرچار كوي چې مخلوق ته فيصله وړل كفر دي دا چې كوم ائمه مونږ

Scanned by CamScanner

حاكمان ګرځولي په فيصلو د دين کې او تقليد ته شرک وايي بنيادي خبره د دوي هغه اصل د خوارجو دي چې لاحكم الا لله، د الله نه سوا بل حاکم نشته دي او د بل چا فيصله کول او ريدل منل دا کفر او شرک دي داد حكميه فرقي عقيده ده.

(۱۱) جماعة د معتزله وو دي دا معتزله د قدريه وو نه هم دي او د خوارجو نه هم دي دا دوه جماعته دي : قالوا اشتبه علينا امر علي ومعاوية فنحن نتبرأ من الفريقين.

دواړو نه مونږ بيزاريو پاکستان کې مودوديان په دې نظر باندې دي دواړو پسې خبرې کوي او دواړو نه بيزاري ښکاره کوي چې دا اوله تفرقه امت کې واي دوي جوړه کړې وه العياذ بالله.

(۱۲) جماعت والميمونية. التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۲۴ :

ومن جملة العجاردة فرقة يقال لهم الميمونية ولا يعدون من فرق المسلمين لانهم يجوزون التزوج ببنات البنات.

د لور لخوا لمسي سره نکاح روا ګڼي.

ويبيحونه وذلك خلاف ما عليه المسلمون.

الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۲٦۴ الفصل السادس عشر من هذا الباب في ذكر الميمونية من الخوارج وبيان خروجهم عن فرق الاسلام هؤلاء اتباع رجل من الخوارج الشخرية كان اسمه ميمونا وكان على مذهب العجاردة من الخوارج وقالوا بتكفير علي وطلحة والزبير وعائشة وعثمان وقوله بتكفير اصحاب الذنوب وانه اباح نكاح بنات الاولاد من الاجداد وبنات اولاد الاخوة والاخوات.

خورزې او وريرې دا ټولې به يې روا ګڼلې دا ۱۲ فرقې د خوارجو وې.

وانقسمت القدرية اثنتي عشرة فرقة :

قدريه ۱۲ فرقې دي.

مخکې له دې نه چې د دغو فرقو نومونه درته ذکر کړم او د هغوي د عقائدو ذکر درته وکړم څه احاديث د قدريه وو په ذم کې درته ذکر کوم چې نفرت مو سوا شي.

الابانة عن شريعة الفرقة الناجية ومجانبة الفِرَق المذمومة جلد ۲ صفحه ۱۰۳ داد
کتاب نوم دي تاسو ته مخکې ترغیب ددې کتاب درکړي وه د حافظ ابن بطة حنبلي :

عن ابن عمر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم سيكون في امتي مسخ.
زما امت کې به مسخه راشي د خلکو نه به خنزیران او شادوګان جوړ شي.
وذلك في القدرية والزندقية. دا مسخه به په قدریه فرقي کې کیږي زنادقه دي.
دويم حديث :
عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتقوا القدر فانه شعبة من النصرانية.
قدریه فرقي نه ځان وساتي دا یوه ډله د نصرانیانو ده.
دارنګې المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۵ صفحه ۳۰ :
عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما بعث الله نبياً قط.
يو پیغمبر خدای تعالی لیږلي نه دي.
إلا وفي أمته قدرية ومرجئة. مګر قدریه او مرجئه به لري.
يشوشون عليه أمر أمته. په دغه پیغمبر به یې هغه اتفاق د امت مشوش کړې وي او په
دې امت کې به یې تشویشونه پیدا کړې وي.
الا وان الله عزوجل لعن القدرية والمرجئة على لسان سبعين نبياً.
خبردار خدای تعالی په لسان د (۷۰) پیغمبرانو باندې قدریه او مرجئه لعنتي کړې دي
. اصول السنة لابن ابي زمنيني جلد ۱ صفحه ۲۹۷ کې زیاتوي :
آخرهم محمد صلى الله عليه وسلم.
المعجم الاوسط جلد ۴ صفحه ۲۸۱ :
عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صنفان من امتي لا يردان عَلَيَّ الحوض.
دوه ډلې دي زما امت کې ما ته په حوض ته ورود نه کوي.
ولا يدخلان الجنة. او جنت ته به هم لاړ نه شي.

Scanned by CamScanner

القدرية والمرجئة .

المعجم الاوسط جلد ۴ صفحه ۲۸۱ :

عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم القدرية والمرجئة مجوس هذه الامة

فان مرضوا . كه دوي مريضان شول .

فلا تعودوهم . بيمار پرسي يې مه كوي .

وان ماتوا . كه مړه شي .

فلا تشهدوهم . جنازې مونځ ته يې حاضري مه كوي .

السنة لابن ابي عاصم جلد ۱ صفحه ۱۴۷ :

عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال صنفان من امتي ليس لهم في الآخرة نصيب القدرية والمرجئة :

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۲۱ په دې كې د صحابه وو هغه روايات را اخلي :

وظهر في ايام المتأخرين من الصحابة خلاف القدرية .

دوي را پيدا شول .

وكانوا يخوضون في القدر والاستطاعة كمعبد الجهني وغيلان الدمشقي وجعد بن درهم وكان ينكر عليهم من كان قد بقي من الصحابة كعبدالله بن عمر وعبدالله بن عباس وعبدالله بن ابي أوفى وجابر وانس وابي هريرة وعقبة بن عامر الجهني وأقرانهم وكانوا يوصون الى أخلافهم .

دوي صحابه وو به خپلو وروستنو ته وصيتونه كول .

بأن لا يسلموا عليهم . چې په دې قدريه وو سلام مه اچوي .

ولا يعودوهم ان مرضوا . بيمار پرسي يې مه كوي .

ولا يصلوا عليهم اذا ماتوا . چې كله مړه شي جنازې پرې مه كوي .

ثم ظهر بعدهم في زمان الحسن البصري بألبصرة خلاف واصل ابن عطاء الغزال في القدر

Scanned by CamScanner

وفي القول بمنزلة بين المنزلتين ووافقه عمرو بن عبيد فيما احدثه من البدعة فطردهم الحسن البصري من مجلسه .

ددې جماعت اول چې دي الاحمرية دي :

وهي التي زعمت ان في شرط العدل من الله ان يملك عباده امورهم .

خدای تعالی به هله عادل ثابت شي چې بنده ګانو ته پوره اختيار ورکړي په خلف کې پوره مالکان يې کړي .

(۲) ذله الثنوية : وهي التي زعمت ان الخير من الله والشر من الشيطان .

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۹۰ :

ان المجوس والثنوية قالوا بخالقين اثنين . ثنويه فرقه ددوه خالقانو قائل وه يو وايي د خير او بل د شر شريې شيطان ته منسوبه وه .

(۳) المعتزلة وهم الذين قالوا بخلق القران وجحدوا صفات الربوبية .

(۴) والكيسانية : التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۳۰ :

وأما الكيسانية فهم اتباع مختار بن ابي عبيد الثقفي .

دا هغه وه چې بيا يې د پيغمبري دعوی کړې وه مختار الثقفي دا په زمانه د مصعب بن زبير رضي الله عنه کې چې کله په عراق ګورنر وه د عبد الله بن زبير رضي الله عنه ورور .

او دې وخت کې عبد الملک بن مروان چې معاوية رضي الله عنه د بنو اميه نه وفات شو ځوی يزيد يې له ځان نه اعلان وکړو هغه لږ وخت لپاره وه چې کله هغه مړ شو بيا مروان اعلان وکړو چې هغه مړ شو عبد الملک بن مروان شو بيا د هغه نه بعد د هغه ځامن راغلل ددې مروان دوه ځامن وه چې يو عبد العزيز وه بل عبد الملک وه ددې عبد العزيز ځوي چې وه عمر بن عبد العزيز وه هغه ته بيا اومه (۷) رتبه کې بنو اميه وو کې امارت ورسيدلو نو يو په کې عادل راغلې دي .

معاويه رضي الله عنه نه ديخوا ته ۱۰ امراء ددوی راغلي دي ټول ظلمه دي يو د بل نه بانديي سواد عمر بن عبد العزيز نه چې هغه ټول امت په عدالت باندې پيژني او ثاني عمر لقب ورکوي نو دې بنو اميه وو بيا ډير ظلمونه کړي دي ددوی د ظلم عظيمه انتهاء دا وه چې

Scanned by CamScanner

په ټولو منابرو د مسلمينو باندې د جمعې په دويمه خطبه کې اهل بيت او حضرت علي رضي الله عنه ته سب او کنځل کيدل دا په هر امام لازم وه چې چا به دا نه کول هغه امام يې حلالوه بيا به يې وويل چې ته د هغوي ملګرې يې او زمونږ مخالف يې خو دومره وه چې بنو عباس اهل بيت چې وه نو دا يې وژل نه خو محبوس کړي وه.

د دوي د کور جيني به چې چيرته واده شوله نو دوي به نظر لاندې ساتله هغه به يې ډيره محبوسه ساتله چې دا چيرته بچي يې بيا تحريک جوړ نه کړي ډيره زياته پابندي کې به يې ساتله بيا دې کې وليد بن عبد الملک راغې سليمان بن عبد الملک راغي دا سلسله روانه وه بيا عمر بن عبد العزيز راغي آخري د بنو اميه وو نه بيا مروان حمار راغي دا ډير ظالم وه د هغه پسې بيا د بنو عباسو نه يو کس د اهل بيتو نه چې عمر يې کم وه کشر وه خو ډير بد معاش وه او ډير ظالم هم وه هغه د بنو أميه وو په خلاف پاڅون وکړو او خلک هم د بنو اميه وو نه ډير تنګ شوي وه نو هغه چې پاڅيدلو خلکو پسې قيام وکړو يو دم د بنو أميه وو دوره يې ختمه کړه بنو عباس پرې راغلل چې راغلل نو دغه اولين بادشاه د بنو عباسو اعلان وکړو چې د بنو اميه وو ځوانان خو مړه کړي ولو که د دوه ورځو ماشوم وي هم يې قتل کړي او ښځې وينځې کړي.

او همداسې ورسره وکړه چې د بنو اميه وو د دوه ورځو ماشوم يې هم ژوندي پرې نه خودلو بس تکړه په بنو اميه وو کې هغه وه چې دا ملکونه يې پرينبودل او لاړ ترې نه او يا يې انکار وکړو چې زه د بنو اميه وو نه يم نو سخت مرګ ورکې بنو عباس وکړو بيا دا بنو عباس تقريباً زيات او کم ۳۰۰ کاله چليدلي دي.

نو مختار بن ابي عبيد الثقفي چې وه هغه وخت کې رابهر شو چې کله عبد الله بن زبير رضي الله عنه په حرمينو باندې د امارت اعلان کړي وه او عراق خراسان په افغانستان باندې مهلب بن ابي يوسف چې د خوارجو مقابله کې لوي مجاهد تير شوي دي ده هم د عبد الله بن زبير سره بيعت کړې وه.

او مصر هم د عبد الله بن زبير سره بيعت کړې وه د يمن خلک هم د هغه په بيعت کې وه زيات بيعتونه له عبد الله بن زبير سره شوي وه عبد الملک بن مروان سره صرف شام وه او دويمه رتبه کې په شام باندې زبردستي وکړه او له هغوي نه يې په زور بيعتونه واخيستل.

Scanned by CamScanner

عراق هم د عبدالله بن زبير سره وه په دې باندې د مصعب بن زبير رضي الله عنه والي وه نو بيا عبدالله بن زبير رضي الله عنه دلته وه چې مختار الثقفي پيدا شو د مختار الثقفي چې وه اول يې د مهديت دعوى وکړه وروسته بيا د نبوت دعوى وکړه بيا مصعب بن زبير دې په يو جنګ کې ونيولو پهانسي يې کړو مختار الثقفي نو دا هغې ته اشاره کوي.

واما الكيسانية فهم اتباع مختار بن ابي عبيد الثقفي الذي كان قام يطلب ثأر الحسين بن علي بن ابي طالب.

اول پاخون يې ددې لپاره کړې وه چې د حضرت حسين رضي الله عنه بدل دې واخيستل شي.

وهم الذين قالوا لا ندري هذه الافعال من الله او من العباد ولا نعلم أيثاب الناس بعد او يعاقبون.

(۵) ډله د قدريه وو والشيطانية: دا ډلة الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۵۳ کې ذکر کوي:

الشيطانية منهم هؤلاء اتباع محمد بن النعمان الرافضي الملقب بشيطان.

ددوي د مشر شيطان لقب وه نو دوي ته يې شيطانية فرقه ويلي.

قالوا ان الله تعالى لم يخلق الشيطان. دوي به ويل خداى تعالى هر څه پيدا کړي خو شيطان يې نه دې پيدا کړي هغه خپله پيدا شوې دې.

(٦) **والشريكية قالوا ان السيئات كلها مقدرة الا الكفر.**

(۷) **والوهمية قالوا ليس لأفعال الخلق وكلامهم ذات ولا للحسنة والسيئة ذات.**

دا منکر ټلل د اعمالو نه دې دا وايي څه ذات نه لري څه شي تلل کيږي:

(۸) ډله والزبرية: **قالوا كل كتاب نزل من عند الله فالعمل به حق ناسخا كان او منسوخاً.**

يهوديت، نصرانيت تورات انجيل زبور باندې عمل به يې جائز ګڼلو.

(۹) **والسعدية زعموا ان من عصى ثم تاب لم تقبل توبته.** د عاصي توبه وايي نه قبليږي.

(۱۰) والناكثية: زعموا أن من نكث بيعة رسول الله صلى الله عليه وسلم فلا إثم عليه.

Scanned by CamScanner

بیعت چې چا مات کړو گناه نه لري .

(۱۱) القاسطية : تبعوا ابراهيم بن النظام في قوله من زعم ان الله شيء فهو كافر .

که چا وویل چې خدای تعالی شي دي نو کافر کیږي .

(۱۲) الصلتية : التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۵۶-۲۶ :

ومنهم الصلتية وهم أتباع صلت بن عثمان وقيل صلت بن أبي الصلت وهؤلاء يقولون انا نوالي كل من كان على مذهبنا .

که زمونږ د مذهب موافق وي موالات ورسره کوو .

ولكنا نتبرأ عن اطفالهم الى ان يبلغوا . او دا ماشومان يې چې دي هغوي نه مونږ بيزار يو ترڅو چې بالغان شي ، چې بالغان شي .

ونعرض عليهم الاسلام فيقبلوه يريدون به عرض مذهبهم .

يعنې مونږ ورته خپل مذهب پيش کوو که ماشومانو بلوغ نه بعد قبول کړو بيا موالات ورسره کوو گنې ترک موالات دي .

وانقسمت الجهمية اثنتي عشرة فرقة :

(۱) المعطلة : زعموا أن كل ما يقع عليه وهم الانسان فهو مخلوق و ان من إدعي أن الله يرى فهو كافر .

که وايي چا وويل چې د خدای تعالی په ورځ د قیامت دیدار کیږي نو دا وايي کافر دي .

(۲) والمريسية : قالوا اكثر صفات الله مخلوقة .

(۳) والملتزقة جعلوا الباري سبحانه في كل مكان .

دوي وايي خدای تعالی په هر ځای کې ده .

زمونږ عوام هم دا خبره کوي چې خدای تعالی په هر ځای کې ده دا خبره غلطه ده د دوي مقصد بنه دي چې کوم مقصد لري خو تعبیر د خپل مقصد نه نه شي کولی دوي وايي چې خالق په عرش ناست ده او مکان مه ثابتوي ورته منکر د مکان دي من الله تعالی خو چونکې د هغې نه تعبير نه شي کولي خداي تعالی په هر ځای کې ده نو دا ځای ته مکان وايي که نه يې

Scanned by CamScanner

وايي يو عرش ورته نه مني او هر ځای دي ورته مکان مکان کړو ځمکه دي ورته ومنلو اسمان دي ورته ومنلو .

دوي په خپل زړه کې روغه خبره کوي خو د خپلو الفاظو نه صحيح تعبير نه شي کولې ،

دې باره کې ۳ نصوص متضاد راغلي ؛ ﴿الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى﴾ ظاهر د نص بدون د تاويل نه استوى ثابتوي .

﴿أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ﴾ دا في السماء ظرف د من لپاره کړو کنه او هغه عبارت د ذات الله نه دي نو دا ايات دا ثابتوي چې اله العالمين يې في السماء کړو او هغه ايات يې على العرش کړو .

وهو الله في السموات وفي الارض . که څوک وايي زه تاويل کومه هو الله دي معبود دي في السمواة وفي الارض نو چې دلته تاويل کوي نو تاويل خو هلته هم کيږي .

• عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دا تاويل منقول دې ؛

الرحمن على العرش استوى ، اى استولى .

تفسير ابن السعود چې کوم دي د الرحمن على العرش استوى معنى په ۸ سيپاره کې د ابن مسعود رضي الله عنه نه په استولى سره نقل کړې ده نو تاويل نه بغير دا دري اياتونه متضاد ښکاريږي يو ايات يې في الارض ثابتوي بل يې في السماء ثابتوي بل يې على العرش ثابتوي اوس که يو سړي وايي على العرش دي في السماء في الارض نه دي ددې دوه اياتونو نه انکار راغلو .

که يو سړي وايي في السماء دي على العرش نه دي في الارض نه دي دې ۲ اياتونو نه انکار راغلو ، که يو سړي وايي چې في الارض دي في السماء نه دي على العرش نه دي دې نه انکار راځي مسلمه عقيده دا شوه چې دا اياتونه به د متشابهاتو نه شي ددې نځوړ به داشي چې خالق کائنات کې موجود دي .

ابن حجر عسقلاني رحمه الله فرمايي چې د خدای تعالى نه سوال کول په أين سره کول هم جائز نه دي ، چې چيرته دي دغه سوال به هم نه کوي ته خو د ذات الله تفکر کوي او تفکر د

Scanned by CamScanner

ذات الله خو ممنوع دي هلته تفکر نه شي، کولی دي په ځای صفات الله کې تفکر وکړه.

نبي عليه السلام ته څه يهوديان راغلل او نبي عليه السلام ته يې وويل چې مونږ ته د خپل رب نسب بيان کړه نبي عليه السلام وژړل حتی چې غشي پرې راغله نو نبي عليه السلام ورته وويل چې زه ورته د لمر نه شم ويلي چې د لمر حقيقت څه شي دي زه به د خالق د ذات تاسو ته څه ووايم نو د خالق په ذات کې تفکر ممنوع دي د هغه نه په أين سره سوال نه ممنوع دي دا ثابتيږي چې خالق موجود دي.

اوس که چا وويل چې علی العرش نه دي دا خبره غلطه ده داسې به نه وايي چې علی العرش نه دي د الرحمن علی العرش استوی مخالفت راځي، که چا وويل چې في السماء نه دي د آأمنتم من في السماء مخالفت راځي، که چا وويل چې في الارض نه دي د هو الله في السموات وفي الارض مخالفت راځي نو مکانونه مه ثابتوي مه ځمکه مه اسمان مه عرش دا مکان کوه مه ورته خو انکار هم مه کوه چې علی العرش نه دي في السماء نه دي في الارض نه دي ذې نه هم انکار مه کوه.

بس نچوړ يې دا شو چې باري تعالی په کائناتو کې موجود دي او که وهابيان دليل کې دا پيش کوي چې نبي عليه السلام د معراج په شپه بره تللي وه هلته خدای تعالی وه دا خو هسې بې ځايه استدلال دي ځکه چې موسی عليه السلام کوه طور ته تللي وه له اوني اواز راغلې وه چې اني انا الله. اوس دلته څه تعبير کوي تهول د متشابهاتو نه دي نو دا دليل د في الأرض نه شي کيدلې او هغه دليل د في السماء نه شي کيدې دا دواړه مکانونه دي حادث دي يو وخت کې دا نه وه خالق وه نو هغه وخت کې د خالق باره کې څه عقيده لرل په کار وه اوس هم هغه په کار ده.

يواقيت الجواهر کې امام شعراني رحمه الله دغه اياتونه راخلي او ډير ښه جواب کوي وايي چې څوک دې کې مشوش وي هغه دې دا تفکر وکړي چې يو وخت کې عرش نه وه اسمان نه وه ځمکه نه وه څه هم نه وه خالق وه نو وه ځنګه چيرته وه عقل په کې کار نه کوي چې نه يې کوي اوس هم دغه شان عقيده جوړه کړه چې خالق موجود ده په کائنات کې باقي تفکر د ذات نه مونږ ممنوع يو چې خالق موجود ده په کائنات کې باقي تفکر د ذات نه مونږ ممنوع يو ذات کې به يې سوچونه نه کوو بطور مثال العياذ بالله چې لاسونه به يې ځنګه وي سترګې

Scanned by CamScanner

بہ یې څنګه وي داد مجسمه وو عقیدې نه سرې راکاوي بلکې بت پرستي ده.

(۴) جماعت د جهمیه : الواردیة : قالوا لا یدخل النار من عرف ربه ومن دخلها لم یخرج منها ابداً.

څوک چې په ګناه ورشي بیا ترې نه شي وتلې خو عارف نه شي تلي هغوي ایمان عبارت د معرفت نه ګرځوي.

(۵) والزنادقة : قالوا لیس لاحد ان یثبت لنفسه رباً.

یو سړی ځان ته رب نه شي ثابتولې.

لان الاثبات لا یکون الا بعد إدراك الحواس.

وایي ځکه اثبات نه راځي وروسته د إدراك الحواس نه.

وما لا یدرك لا یثبت . چې شي حواس نه درک کوي نو منل یې نه دي په کار نو د رب نه منکر دي دا.

(۶) والحرقیة : زعموا أن الکافر تحرقه النار مرة واحدة ثم یبقی محترقاً ابدا.

یو ځل به یې وسوزوي بیا به جهنم کې سوزید لي پراته وي.

لا یجد حر النار. بیا دوباره نه پیدا کوي حرارت د اور.

(۷) والمخلوقیة : زعموا أن القرآن مخلوق.

(۸) والفانیة : زعموا أن الجنة والنار یفنیان . دا به فنا کیږي.

ومنهم من قال لم یخلقا . بعضې وایي چې دا بالکل لا پیدا شوې هم نه دي.

(۹) والعبدیة : جحد والرسل وقالوا انما هم حکماء . د رسولانو نه انکار کوي وایي دا هوښیار خلک وه.

(۱۰) والواقفیة : قالوا لا نقول ان القران مخلوق ولا غیر مخلوق . موتږ ورته نه مخلوق ویلي شو او نه غیر مخلوق.

(۱۱) والقبریة : ینکرون عذاب القبر والشفاعة . داد عذاب قبر او شفاعت منکر دي.

Scanned by CamScanner

دلته پاکستان کې دا ډېر زيات دي عثمانيان ورته وايي ، ښکاره د عذاب قبر منکر دي او دا پنجپيريان هم د عذاب قبر منکر دي دوي په بل شکل انکار کوي .

دوي وايي قبر کې هيڅ هم نشته دې روح يا عليين ته لاړ شي تنعم هلته دي او يا سجين ته لاړ شي تعذيب هلته دي سجين کې منو خو په قبر کې نه منو ، دوي وايي هغه روح ته تکليف ورکول کيږي باقي تنه دده خرابه شي ضايع شي ده ته څه عذاب نشته دي دا ختموي او دا ميت بلا روح وي او زمونږ اهلسنت دا وايي چې صحيح ده روح دده سجين ته لاړو او يا د نيک عليين ته لاړو خو د دغه روح له دغه تني سره يو ربط شته دي د هغه ربط په وجه دغه تنه تنعم هم حاصلوي او دغه تنه عذاب هم حاصلوي او په هغې پوهيږي درکي کوي او د هغې مثال د لمر دي چې اثريې ښکاره دي په ځمکه کې او لمر په کومه دونيا کې ده .

(۱۲) جماعت : واللفظية : قالوا لفظنا بالقرآن مخلوق .

وانقسمت المرجئة اثنتي عشرة فرقة :

(۱) التاركية : قالوا ليس لله عزوجل على خلقه فريضة سوى الايمان به . صرف ايمان دي نور څه نشته او چې ايمان چا قبول کړو .

فليفعل ما شاء . چې څه کوي بس کوي دي .

(۲) والسائبية : قالوا ان الله تعالى سيب خلقه ليفعلوا ما شاءوا . دا هم هغه اولې دلې ته قريب دي ، وايي خلک يې خوشي کړي چې څه کوي هغه به کوي .

(۳) والراجية : قالوا لا يسمى الطائع طائعاً ولا العاصي عاصيا لأنا لا ندري ماله عند الله تعالى .

نه به نيک ته نيک وايي نه به بد ته بد وايي مونږ ته معلومه نه ده چې عندالله يې څه فيصله ده .

(۴) والسالبية قالوا الطاعة ليست من الإيمان .

(۵) والبهيشية : قالوا الايمان علم ومن لا يعلم الحق من الباطل والحلال من الحرام فهو كافر . غير عالم کافر ګڼي .

Scanned by CamScanner

(٦) والعملية: قالوا الايمان عمل.

(٧) والمنقوصية: قالوا الايمان لا يزيد ولا ينقص. كم ايمان.

الايمان الكامل الذي هو مترادف مع الإسلام.

كوم ايمان چې مترادف د اسلام سره دي چې ايمان كامل دي چې هغه سبب دي لپاره د نجات من النار بالكل د اور نه دي خلاصوي هغې ته لا يزيد ولا ينقص وايي نو دا مرجئه دي بيا احناف چې كوم قول كوي دغه ايمان نه يادوي هغوي ايمان مطلق يادوي ايمان كامل نه يادوي. ايمان خو كمال ته په عمل رسيږي هغه مترادف له اسلام سره دي عمل زياتيږي نو ايمان خپله زيات شو يو ايمان مطلق دي چې هغه د خلود د جهنم نه ناجي دي نه د نفس جهنم نه هغه ايمان يزيد وينقص قول امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ كړي دي.

(٨) والمستثنية: قالوا الإستثناء من الإيمان.

(٩) والمشبهة: قالوا بصر كبصر ويد كيد.

(١٠) والحشوية: قالوا حكم الاحاديث كلها واحد. حكم د احاديثو يو دي.

فعندهم ان تارك النفل كتارك الفرض.

(١١) الظاهرية الذين نفوا القياس. هغه دي چې قياس نفي كوي وايي چې قياس نشته دي داد مرجئه (١١) ډله ده نن صبا وهابيان هم دي كې دي.

(١٢) والبدعية: اول من ابتدع هذه الاحداث في هذه الامة.

وانقسمت الرافضة اثنتي عشرة فرقة:

(١) العلوية: أن الرسالة كانت إلى علي وأن جبرائيل اخطأ.

(٢) والأمرية قالوا إن عليا شريك محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في أمره. چې رسالت دي.

(٣) والشيعة: قالوا إن علياً رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وصي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ووليه من بعده وإن الأمة كفرت بمبايعة غيره. تمام صحابه كافر كوي نعوذ بالله.

(٤) والاسحاقية: قالوا أن النبوة متصلة الى يوم القيامة. دوي د ختم نبوت منكر دي.

Scanned by CamScanner

وكل من يعلم علم اهل البيت فهو نبي .

(٥) والناووسية : قالوا علي افضل الأمة فمن فضل غيره عليه فقد كفر .

(٦) والامامية : قالوا لا يمكن أن تكون الدنيا بغير إمام من ولد الحسين .

وإن الإمام يعلمه جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ فاذا مات بدل غيره مكانه . دوي وايي يو امام به خامخا وي .

(٧) والزيدية : قالوا ولد الحسين كلهم أئمة في الصلوات فمتى وجد منهم احد .

وايي چې كله حسيني او سيد موجود وي :

لم تجز الصلاة خلف غيرهم برهم وفاجرهم .

نيک وي که بد وي خو چې حسيني سيد موجود وي بل چا پسې مونځ جائز نه ده .

(٨) والعباسية : زعموا أن العباس كان أولى بالخلافة من غيره .

(٩) والتناسخية : قالوا الأرواح تتناسخ .

دا په دوي کې صوفيه دي قائلين دي د ارواحو د تناسخ چې دا روح يو نه وځي ځي چيرته نه دا وايي بل کې دننه شي وايي نبنه يې دا وي چې هغه سړي ډير مالداره شي دا ديو بنه سړي روح په کې ننوتلې وي د هغه برکات په ده ښکاره شي .

(١٠) والرجعية : زعموا أن علياً وأصحابه يرجعون إلى الدنيا وينتقمون من أعدائهم .

(١١) واللاعنة : يلعنون عثمان وطلحة والزبير ومعاوية وابا موسى وعائشة وغيرهم .

(١٢) والمتربصة : تشبهوا بزي النساك ونصبوا في كل عصر رجلاً ينسبون اليه الامر يزعمون انه مهدي هذه الامة فاذا مات نصبوا آخر .

ثم انقسمت الجبرية اثنتي عشرة فرقة :

(١) فمنهم المضطرية : قالوا لا فعل للادمي بل الله يفعل الكل .

بنده څه فعل او کسب نه لري څه چې دي نو خدای تعالی يې کوي نو دغه عقيده د جبريه وو مضطريه فرقې ده چې هر څه خدای تعالی کوي بنده هيڅ نه شي کولې دا د اهلسنت

Scanned by CamScanner

عقيده نه ده اهلسنت دا عقيده لري د ټولو اشياو خالق خداى تعالى دي .

ددوي مقابله کې قدريه وو کې معتزله دي چې هغوي د شر خالقين عباد ګڼي او د خير خالق الله ګڼي او شيطان وايي خپله پيدا شوې دي د کفر خالق بنده ګڼي د زنا ، غلا خالق بنده ګڼي دا په دې کې چې د خداى تعالى تنزه دوي ثابتوي چې ولې نسبت د قبيح خلق هغه ته وکړو هغه خو ډير پاک ذات دي نو اهلسنت په وسط کې راغلل چې د ټولو اشياو خالق الله تعالى دي والله خلقكم وما تعملون .

او د ټولو اشياو کاسب او کولو والا دا بنده دي هر څه خداى کوي دا غلطه خبره ده هر څه خداى تعالى پيدا کوي څومره کارونه چې دي دا مخلوق ته سپارلې شوي که خير دي او که شر د خير نه صلوات دي خو خالق ته يې نسبت د کولو نه کيږي د پيدا کولو يې کيږي او د شر مثال د غلا او زنا ده خو خالق ته يې نسبت د کولو کفر دي مخلوق ته يې نسبت کيږي که دا څوک وايي چې هر څه د خداى په اراده باندې کيږي نو دا خبره صحيح ده .

جميع افعال العباد بارادته ومشيته . داد شرح عقائد متن دي ټول کارونه د بنده ګانو د خداى تعالى په ارادې باندې دي په مشيت باندې دي .

عند اهلسنت لا كما زعمه الجبرية ان ليس للعبد فعل اصلاً .

خو دلته به لږ ځان پوهوي چې هر څه د خداى تعالى په اراده کيږي دلته د اهلسنت سره د جبريه وو يوه بله ډله ده معمولي فرق لري هغه فرق دا دی چې جبريه وو کې يوه ډله خو داده چې بالكلية مخلوق څه نه شي کولې .

دويمه ډله داده چې هغوي وايي هر څه د خداى په اراده کيږي او مخلوق د خداى له ارادې نه بغير څه شي نه شي کولې خو د خداى تعالى دا اراده بيرته د خيله په دې کسب کې ګڼي او د خداى تعالى په اراده دا بنده مجبور ګڼي دا بيا جبريه دي دا هغه فرقه ده لو شاء الله اطعم مونږ ته وايي چې غريبانو ته روټي ورکړه .

که د خداى خوښه واي طعام به يې ورکړې واى کنه دا چې مونږ طعام نه ورکوو دا خو د خداى اراده نه ده شوې ګوره هغه خپل کار کې به يې د خداى اراده د خيله کړه او ځان به يې پرې مجبور کړو الملل والنحل کې امام شهرستاني رَحِمَهُ اللهُ ذکر کوي وايي دغه جبرو چې دي

Scanned by CamScanner

داد ارادې و الا واى داد مشركينو جماعت دي دغه ايات يې پيش كړي دي: وهل هذا الا تصريح بالجبر. دغسې خبرې چې څوک كوي چې د خداى په اراده كيږي او اراده يې ته كسب كې دخيله ګرځوي وايي دا سو چه جبر دي دا صراحت په جبر سره دي هر څه د خداى تعالى په اراده باندې دي خو اراده د خداى تعالى مؤثره خلق كې ده په كسب كې نه ده.

د شرح عقائد متن چې پوره وكتل شي نو بيا درته ښكاره كيږي د خداى تعالى اراده مؤثره په خلق كې ده په كسب كې نه ده لكه زه يو شي را اخلم دلته زما په دې زړه كې يو قصد راځي دا كار لا ما كړې نه دي زما دې زړه كې قصد راشي زه اراده وكړم هغه. اراده نه چې معي د فعل سره ده هغه اراده په نوم د قصد مصمم سره چې زه يې زړه كې راولاړه كړم چې زه څنګه اراده وكړمه زما هغه اوله اراده هغه د قصد قلبي اراده ياده وه اثر لا هيڅ هم نه دي ښكاره عمل لا نه دي شوي دده شي اوچتول يو عمل دي زه دې زړه كې اراده كوم قصد كوم چې زه به دا شي را اخلم.

شرح عقائد څه ليكي:

عقيب ذلك يريد الله تعالى الخلق.

چې زه څنګه دده قصد وكړم دغي نه وروسته خداى تعالى ددې خلق اراده وكړي زما د پاره دا كار پيدا شي نو زه هغه اراده استعمال كړم چې كومه معي مع الفعل ده را اوچته يې كړمه نو دا شي داخل شي تحت القدرتين وتحت الارادتين ارادة الله تعالى من حيث الخلق والايجاد وارادة العبد من حيث الكسب والاكتساب. زما كار كسب دي او د خالق كار ايجاد دي نو چې هر څه د خداى په اراده كيږي دا سمه عقيده ده خو ددې نچوړ دادى چې خداى تعالى د كل اشياء خالق دي ددغه الفاظو په ځاى د هغه الفاظو تعبير وكړه صحيح ده كنه هر څه د خداى تعالى په اراده كيږي د الله اراده مؤثره په خلق كې ده نه په كسب كې نو چې په خلق كې ده نو د الله تعالى د ارادې په خلق كې د تاثير مقصد هم دغه دي چې دا شي پيدا كوي.

نو لنډ وو ايه چې هر څه خداى تعالى پيدا كوي جبريه وو سره اهل سنت ډير فرق نه لري تقريبا ۱۹-۲۰ فرق دي دغه جبريه چې كوم اراده اراده په كې يادوي چې هغه كوم اراده نه

Scanned by CamScanner

یادوي د هغوي فرق زمونږ سره خو بداهتاً ضروري فرق دي او هغه خو لحن لفرق بين حركة البطش وحركة الارتعاشي بالبداهة، د ګوزنډوالي حركت او د بطش حركت دا خو بداهةً فرق لري كوزنډوالا اختيار نه لري زه اختيار لرم هغه مضطرية فرقې چې كومه عقيده ساتلي هغه خو فرق لري چې مخلوق څه نه شي كولې هغه خلک چې اراده په کې یادوي د هغوي سره بیا د اهلسنت فرق ډير عميق دي او ډير معمولي باريک فرق دي هغوي ددې ارادې له وجې نه دا مخلوق مجبور وګڼډ او هغه تقدير چې په ازل کې شوې دي د هغې د لاسه يې حركات د عبادو وګرځول.

او اهلسنت څه كار كوي چې ددې تقدير له وجې نه حركات د عبادو نه دي بلكې دحركاتو د عبادو د تقدير ريكاډ شوې دي دغومره معمولي فرق دي په کې غېيدل هم جرم دي خو که دې خلكو دا خبرې نه كولې نو مونږ به ولې كولې دفاعي حالات دي چې مونږ يې استعمالوو ګڼې چونكې دا تكلم د تقدير په باب کې فقها. شنيع ګڼلي امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللهُ قاضي ابي يوسف دربار ته راغي څه علماء په همدې مسئله نختي وه او هارون الرشيد بادشاه ورته وايي قاضي صاحب فيصله وكړه څادرېږ وڅنډه ترې روان شو وايي نن قضاء ته كينمه هم نه دا وايي داسې بنه كار کې نه دي لګيا چې زه يې فيصله وكړم په دې کې به يې فيصله نه كوله.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وايي دې مسئله کې چې بحث كوي وايي مخ ورته تور كړي او په اوبن يې سور كړي او دا مخ يې د لكي خوا ته كړي او د لكي دا اوبن په خوله کې وركړي او د چېرو هار ورته واچوي په غاړه کې بازار کې وګرځوي چې څوک تقدير کې غږېږي دا به يې سزا وي علماء دومره دې کې بحث بد ګڼي دغه جهالو دغه مسئله زير بحث كړه.

مونږ د مجبورۍ نه دې ته راغلو ګنې زه خپل شاګردان دې نه سخت منع كومه چې دا مسئله زير بحث مه ګرځوي او انتهائي ژوره مطالعه د علم كلام چې نه وي په کې ګمراه كيږي نه رسيږي هغه حق ذهن ته دي.

شيخ حسن جان رَحِمَهُ اللهُ به يو مثال وركوه او ډير عام فهم مثال به يې ويلو هغه دا مثال وركوي چې شيشه به يې ځان ته ونيوله دې شيشه کې به يې سر وخوزوه حركت به يې وركړو هلته په شيشه کې به هم سر وخوزيدلو دا چې كوم خلک اراده يادوي او جبريه دي او

Scanned by CamScanner

اهلسنت ددوي مينځ کې دومره فرق دي جبري وايي، وايي دا زما سر ځکه خوزېږي چې هغه شيشه کې تصوير خوزيدلي دي د هغه د لاسه زه خوزېږم. اهلسنت وايي چې تا دا سر نه واي خوزولې هغه شيشه کې نه خوزيدلو خو ستا د خوزيدلو نه هلته خوزيدل راغلل دغه شيشه کې تصوير دغه مثال د تقدير دي.

جبري وايي چې تقدير کې څه شو د هغې نه زه مخالفت نه شم کولې ولې هغه ما خوزوي دغه وخت کې که مونږ ليکلي وي زه مونږ کومه او که زنا يې ليکلي وي زنا کومه زما په کې څه اختيار دي د زنا په وخت کې به يې مونږ راته ليکلې واى کنه ماته به يې تول مونځونه ليکلې واى زنا به يې نه ليکلي ګوري ځان خو يې مجبور کړو کنه د تقدير د لاسه يې ځان مجبور کړو.

اهلسنت وايي چې خداى تعالى په تا عالم وه ازلاً چې ته بد بخته به په دغه وخت کې زنا کوي ځکه يې درپسې وليکله خو د هغې د لاسه په تا زنا نه ده شوې تا په خپل اختيار باندې کړې ده ضرور دي چې دلته يو فرق وشي په مينځ کې او د خداى تعالى د تقدير د لاسه ځان ونه خوزول شي داسې مثال يې دي ګوري زما نه دې کامرې ريکارډ وکړ او صباتاسو په ويډيو کې ګوري او هغې کې زه خوزېږم خو زه دلته خوزيدلې يمه چې هلته ريکارډ شوې دي کنه نو داسې خو نه ده چې زه د ريکاډ له وجې نه حرکت کوم زما له خوزيدو نه ريکاډ جوړ دي.

هغه تقدير دغه شان تصوير دي دغه شان معامله ده دغه شان ريکاډ دي دا ريکاډ زمونږ د خوزيدو نه جوړ دي خو د ريکاډ د لاسه زمونږ خوزيدل نه دي نو جبريه مونږ سره دغه فرق لري هغوي وايي دا هر څه تقدير کې دي که هغه نه وايي نو مونږ به دا کارونه نن نه کول ځان مجبوروي ورباندې مثال يې د ونې ورکوي چې باد پرې راشي خوزېږي کنه نه خوزېږي دا محض د جبريه وو مثال دي ونې سره ته کله مماثل يې هغه اختيار نه لري اراده نه لري عزم نه لري ته اختيار لري عزم اراده لري کله مثال د قلم سره ورکړي چې کاتب يې خوزوي او خوزېږي ګنې نه خوزېږي دا جهال اميان تبليغيان دا هم د محراب خوا ته دا مثالونه عوامو ته ورکوي.

ـ نو ته کله د قلم په شان يې قلم کې حرکت نشته جماد دي اختيار نه لري انسان اختيار لري ډيره خطرناکه فرقه ده، لعنة المرجئة على لسان سبعين نبياً.

Scanned by CamScanner

د مرجئه وو شرحه ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ وايي :

والحق أن المرجئة هم المجبرة الذين قالوا أن ليس للعبد فعلاً أصلاً .

حقه داده چې مرجئه جبريه فرقه ده هغه ده چې وايي بنده څه نه شي کولی .

اويا (۷۰) پيغمبرانو په دې جماعت باندې لعنت ويلی دی .

(۲) والأفعالية : قالوا لنا افعال ولكن لا استطاعة لنا فيها .

زمونږ کارونه شته خو طاقت په کې نه لرو .

وانما نحن كالبهائم نقاد بالحبل . او مونږ د بهائمو په شان يو چې راخکلي کيږو حبل نه مراد تقدير يادوي تقدير مو راکاږي .

تبليغي جماعت والا کې چې کوم جهال دا وايي چې هر څه خدای کوي مخلوق څه نه شي کولی دا په جبريه وو کې مضطريه فرقه ده کوم طالبان او علماء ددوي چې اراده اراده ورکې يادوي هر څه د خدای په اراده کيږي او ځان بيا هم مجبور ګڼي او مثالونه د جبريه وو پيش کوي هغه دا فعاليه فرقه ده افعال مني ځان ته خو اختيار په کې نه مني .

(۳) والمفروغية : قالوا كل الاشياء قد خلقت والأن لا يخلق شيء .

هر څه مخکې پيدا دي اوس څه نه پيدا کيږي .

(۴) والنجارية : زعمت ان الله تعالى يعذب الناس على فعله لا على فعلهم .

د خلکو په اعمالو تعذيب نه دي خدای تعالی چې تقدير کې څه جوړ کړې وي د هغې موافق تعذيب دی .

(۵) والمنانية : قالوا عليك بما يخطر بقلبك فافعل ما توسمت منه الخير .

وايي څه چې دې په زړه کې راځي په هغې عمل کوه يعني **استفتي قلبك استفتي نفسك وان اخطاك المفتون .**

دا خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا امر کړې وه خو داسې چا ته يې کړې وه چې قلب يې صفا وه نفس تزکيه وه هر سړي خو يې نه شي کولی دا دله ټول داسې وايي نه نه فتوو پسې مه ځه زړه ته متوجه شه .

Scanned by CamScanner

(٦) والكسبية قالوا لا يكتسب العبد ثواباً ولا عقاباً.

(٧) والسابقية: قالوا من شاء فليعمل و من شاء فلا يعمل فأن السعيد لا تضره ذنوبه والشقي لا ينفعه بره.

تقدير ته ځان سپاري.

(٨) والحبية قالوا من شرب كأس محبة الله تعالى سقطت عنه عبادة الأركان.

چا چې پياله د محبت د خداى تعالى وڅكله ساقط شو له ده نه عبادت د اركانو.

(٩) والخوفية قالوا من أحب الله تعالى لم يسعه أن يخافه لأن الحبيب لا يخاف حبيبه.

څوک چې خداى تعالى سره محبت لري جائز نه دي ده لره چې تري وډار شي لان الحبيب لا يخاف حبيبه.

(١٠) والفكرية قالوا من ازداد علماً أسقط عنه بقدر ذلك من العبادة.

علم چې زياتيږي عبادت تر ورو ورو ساقطيږي.

(١١) والخشبية قالوا الدنيا بين العباد سواء لا تفاضل بينهم فيما ورثهم أبوهم آدم.

د اسم د خلقيانو مذهب دي زر زمين شريک دي د شريک خبره كوي چې دا ځمكي دي ټول يو شان تقسيم شي.

(١٢) والمنية قالوا منا الفعل ولنا الإستطاعة.

كارونه هم زمونږ نه دي او استطاعت هم زمونږ نه دي، يعنې دا مونږ خپله پيدا كړي دي قدريه وو سره يې لږ فرق شته وايي كارونه منا زمونږ نه دي مونږيې كوو خو دې سره چې كوم طاقت دي خداى نه دې راكړي په زنا باندې طاقتونه بلكې دا مونږ خپله پيدا كړې دي.

اوس ددې فرقې په رد كې څه روايات ذكر كوم:

سنن ابي داؤد جلد ۴ صفحه ٣٥٧:

حدثنا موسى بن اسماعيل حدثنا عبد العزيز بن ابي حازم قال حدثني بمنىً عن ابيه عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال القدرية مجوس هذه الأمة إن مرضوا فلا تعودوهم وإن

Scanned by CamScanner

ماتوا فلا تشهدوهم .

دا مخکې هم تیر شوې دي .

دویم روایت کې فرمایي جلد ۴ صفحه ۳۵۷ :

حدثنا محمد بن کثیر اخبرنا سفیان عن عمر بن محمد عن عمر مولی غفرة عن رجل من الانصار عن حذیفة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لکل أمة مجوس ومجوس هذه الأمة الذین یقولون لا قدر من مات منهم فلا تشهدوا جنازته ومن مرض منهم فلا تعودوهم وهم شیعة الدجال وحق علی الله ان یلحقهم بالدجال .

المجالسة وجواهر العلم جلد ۳ صفحه ۲۱۸ :

حدثنا عباس بن محمد الدوري حدثنا عثمان بن زفر حدثنا ابو معشر عن سعید عن أبي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لکل أمة مجوس ومجوس هذه الامة القدریة فان مرضوا فلا تعودوهم وان ماتوا فلا تشهدوهم وان لقیتموهم في طریق فالجئوهم الی اضیقه .

که په لاره په مخه درغله تنګوي یې د کافرو سره چې کوم تشدد په کار وي .

داد یهودو باره کې هم راغي چې په لاره په مخه درغي تنګي ته یې ورجوړ کړه یعني داسې لار مه ورکوه سم یې تنګي ته برابر کړه تکلیف یې کړه ، اوس انګریزان مونږ تنګوي لارې راباندې بندوي انګریزان پوهیږي چې د نبي علیه السلام دې خبرې کې څه مقصد شته دي هغه حدیث اوس دوي عملي کړو په مونږ باندې .

دا غلبه به څه وخت د پاره وي خو دائمي به نه وي نبي علیه السلام دُعا کړې وه چې زما په امت به غیر نه مسلط کوي دا دُعا قبوله شوې وه دا تسلیط د څه ایام دي په څه مواطنو متعددو دي په ټولو نه شي راتلې .

ټوله دنیا باندې ذو القرنین علیه السلام بادشاهي کړې ده سلیمان علیه السلام بادشاهي کړې د مؤمنینو نه ، بخت نصر کړې ده او نمرود کړې ده .

اخرې چې په ټوله دنیا بادشاهي کوي عیسی علیه السلام به یې کوي نو زمونږ تله پرې درنه شوه زمونږ به درې بادشاهان په دنیا بادشاهي وکړي او د کفارو به دوه بادشاهان

Scanned by CamScanner

بادشاهي په تو له دنيا وکړي .

دارنګې الذرية الطاهر للدولابي جلد ۱ صفحه ۱۸۳ :

حدثني احمد بن يحيى الصوفي حدثنا ابراهيم بن محمد بن ميمون عن محمد بن حسين بن علي بن حسين عن ابيه عن جده عن النبي ﷺ قال يكون بعدي ثلاث فرق .

ما نه بعد درې فرقې به راشي :

مرجئة ، حرورية و قدرية فأن مرضوا فلا تعودوهم .

چې کله مريضان شي بيمار پرسي يې مه کوي .

وان ماتوا فلا تشهدوهم .

که مړه شول جنازې ته يې مه ورځې .

وان دعوا فلا تجيبوهم .

که دعوت يې درکړو نو دعوت يې مه قبلوي خوراج هم په دې کې راغلل .

دا مسئله د الفرق بين الفرق وه باقي د ايصال ثواب رايه د اهلسنت وه مقابل يې اهل زيغ وه کرامت د اهلسنت رايه وه مخالف يې معتزله دا په دغې جماعاتو کې راغلل ، دارنګې عذاب قبر چې حق دې د اهل سنت رايه ده منکر د دې دغه جماعت تاسو ته ذکر شول دارنګې مثبتين د قياس اهلسنت دي او نافيين د قياس اهل ظواهر دا يوه ډله او جماعت په دغې کې راغي .

دغه شان نور بعضې مسائل چې هغه ثبت د سلفو کوي د اسلافو کوي يا خپل جماعت نه خارج کافر ګڼي چې دا اتفاقي د خوارجو عقيده ده هغه په دوي کې شته نو همدغه جماعات دي چې عقيدوي مخالفت د اهلسنت والجماعة سره لري او انتهائي زيات توجه دې مسئلې ته ورکول په کار دي چې بايد سړي د اهل سنت تائيد وکړي او د اهل زيغو مقابله وکړي باقي رفع اليدين امين بالجهر دا څه فروعي اختلافات د ائمه وو په مينځ کې دي داد يو جانب بل ته ګمراه نه شي ويلي او نه دا ضلالت دي يا هم .

مسئله د الفرق بين الفرق خلاصه شوه .

Scanned by CamScanner